
# د تمدن سوغات

حبیب الله رفیع



دپښتی او متن عکسونه: د لیکوال دآرشیف او د سپك د آرشیف.

# د تمدن سوغات

(افغانستان ته د عصري وسايلو د راتلو تاريخچه)

PROPERTY OF
ACKU

ليکوال
حبيب الله رفيع

PROPERTY OF
ARIC
Established
1989

۱۳۷۸

| | | |
|---|---|---|
| دکتاب نوم | : | د تمدن سوغات. |
| ليکوال | : | حبيب الله رفيع. |
| خپرونکی | : | د اريك د ګرځنده کتابتونونو اداره. |
| کمپوزکوونکی | : | زکی الله رفيع. |
| د چاپ کال | : | ۱۹۹۹\۱۳۷۸. |
| د چاپ ځای | : | پېښور. |

بسم الله الرحمن الرحيم

اریك له دوو کلونو راهیسې د افغانستان بېلا بېلو ولایاتو ته د ګرځنده کتابتونونو د لېږلو پروګرام جوړ کړی دی؛ ګرځنده کتابتونونه د اوسپنیزو صندوقونو په بڼه جوړ شوي، د هېواد په یوه برخه کښې په یوه ځانګړي ځای کښې اېښودل کېږي، د سیمې خلك راځي کتابونه په امانته توګه اخلي، لولي یې خپلو شااوخوا نالوستو کسانو ته یې اوروي، بیا یې بېرته راوړي او په بدل کښې یې بل کتاب اخلي او په دې ترتیب په سیمه کښې د کتابتون ټول کتابونه لوستل کېږي او بیا دا ګرځنده کتابتون یوې بلې سیمې ته وړل کېږي.

موږ هڅه کړې دې کتابتون ته داسې کتابونه راغونډ کړو چې له یوې خوا یې ژبه ساده او اسانه او له بلې خوا د خلکو د استفادې او اړتیاوړ خبرې او مطالب ولري او له دوی سره د دوی په روان ژوند کښې عملي مرسته وکړي، لکه د کرنې، لاسي کارونو، چرګانو روزنې او نورو چارو کښې.

موږ په دې ترخ کښې د اسروي هم کوو چې خلك نورو کومو آثارو او کوم ډول موادو ته اړه لري، چې په دې لړ کښې مو د دوی ګڼې غوښتنې او د اړتیا وړ مواد لست کړل خو متأسفانه په دې برخه کښې مو کتابونه ونه موندل چې د دوی په

لومړی

ګرځنده کتابتونونو کښې یې ځای پر ځای کړو.

د دې تشې د ډکولو له پاره مو یو کال وړاندې "یو نو چا" ته وړاندیز وکړ چې مالي مرسته وکړي او موږ د دې ګرځنده کتابتونونو له پاره په خپله یو شمېر د اړتیاوړ کتابونه چاپ کړو او د خلکو غوښتنو ته په خپل لاس د عمل جامه ورواغوندو. هغوی زموږ وړاندیز ومانه او یو موټی پیسې یې راکړې. موږ د دې له پاره چې کار سیستماتیك او ښه ګټور شي دې کار ته د تهیې یوه ډله و ټاکله چې هم زموږ د ادارې غړي پکښې دي او هم د هېواد یو شمېر مجرب او له دې کار سره علاقمند لیکوال او مؤلفین. چې په ګډه به کار کوي، د اړتیا وړ کتابونه به یا په خپله او یا د هغو لیکوالو په وسیله چې په ټاکلي موضوع کښې تخصص او مهارت لري، تهیه کوي او د کتابونو د پلانګذارۍ، تهیې، چاپ او وېش ته د چمتو کېدلو ټول پړاوونه به یې په ګډه پر مخ بیایي. دا ډله د افغانانو له خواخوږې میرمن نانسي دوپرې، حبیب الله رفیع، سر محقق زلمی هېواد مل، حسین فخری، محمد فهیم رحیمیار او محمد رفیع څخه جوړه ده.

موږ د هېواد په کلیو، بانډو او ښارونو کښې د ګرځنده کتابتون له ټولو ګرانو لوستونکو څخه هیله کوو چې خپلې اړتیاوې، غوښتنې او پوښتنې راولېږي او دهېواد له ټولو پوهانو او عالمانو څخه هیله لرو چې په دې لاره کښې را سره مرستې شي څو په دې برخه کښې له ښه نه ښه کتابونه وړاندې کړای شو!

په درنښت

"د اریك ګرځنده کتابتونونو اداره"

# فهرست


| عنوان | مخ |
| --- | --- |
| د ساینس درسونه | ۱ |
| ساعت | ۳ |
| توپ | ۷ |
| برېښنا | ۱۰ |
| ټېلګراف | ۱۳ |
| ټلیفون | ۱۴ |
| راډیو | ۱۹ |
| عکاسي | ۲۵ |
| سینما | ۲۹ |
| تلویزیون | ۳۳ |
| موټر | ۳۷ |
| رېل | ۴۳ |
| الوتکه | ۴۶ |
| چاپ | ۵۱ |
| نورې عصري وسیلې | ۵۶ |
| اخځلیک | ۵۹ |

# د ساینس درسونه

د ساینس ښوونکي نن خپلو زده کوونکو ته په داسې حـال کښې چې د ساینس درسی کتاب تمام شوی ؤ خو تعلیمي کال لا پاتې وو، په خوښۍ وویل:
له درس سره ستاسو علاقه، په وخت حاضرېدل او غیر حاضري نـه کـول د دې سبب شول چې زموږ د ساینس درسي کتاب تر ټاکلـی وخـت وړانـدې سـرته ورسېږي نو اوس موږ وخت لرو چـې پـه پـاتې درسـي سـاعتونو کـښې د ساینسـي ایجاداتو او افغانستان ته د تمدن د سوغاتونو د راتلو په اړه خبرې وکړو او پـر دې وغږېږو چې افغانستان ته د نوي تمدن ښه څه وخت را خلاصه شـوه؟ او پـه نـړۍ کښې شوي ساینسی ایجادات څنګه او کوم- کوم وخت افغانستان ته راغلل؟
زده کوونکو ټولو په یوه خوله وویل:
دا خو ډېر په زړه پورې بحث دی خو څنګه به یې پیلوو؟
ښوونکي ورته وویل:
آسانه ده، هره ورځ به یوه- یوه موضوع یا دوو او پرې غږېږو به، مثـلاً یـوه ورځ به پر دې غږېږو چې الوتکه څه وخت جـوړه شـوه، افغانسـتان تـه څه وخـت راغله او د خلکو عکس العمل ورسره څنګه ؤ، موټر څه وخت ایجاد شو؟ څه وخـت

زموږ هېواد ته راغی او څه ډول استفاده ترې وشوه؟ په همدې ترتيب بــه د نـورو عصري ايجاداتو په باب غږېږو او زه به خپل معلومات چې په دې برخه کــښې مــې را غونډ کړي درته اوروم او که تاسو هم څه اورېدلی وي پرې ور زياتوئ به يې!

زده کوونکو په ګډه وويل: موږ ډېره علاقه لرو چې دا خوندور او ګټور بحث راونښلوو.


ښوونکي وويل: هو! له خيره سر له سبانه به په يوه- يوه موضوع غږېږو!

زده کوونکو ورغبرګه کړه: ډېره ښه ده!

ښوونکي وويل: نن نو د خدای پامان!

زده کوونکو په يوه خوله وويل: په مخه موښه!

## لومړی درس




ښوونکي د درس له شروع سره شاګردانو ته وویل:
دا دي نن له وعدې سره سم په ساینسي ایجاداتو او اختراعاتو بحث کوو، ځکه همدا اختراعات او انکشافات وو چې د بشر د تمدن ارابه یې ګړندۍ کړه، په وخت کښې یې سیما راوسته، نړۍ یې دواتونو، هوایي کرښو، د برېښنا او تلفون په مزو او په هوایي څپو سره لنډه کړه، سره ویې ګنډله او د یوې کورنۍ بڼه یې ورکړه:
اڅک وویل: چې داسې ده نو استاده لومړی د ساعت په باب چې د وخت ارزښت او اهمیت یې ټاکلی معلومات راکړئ!
ښوونکي وویل: دا ډېره ښه موضوع ده، وخت د انسانانو په ژوند کښې ډېر ارزښت لري خو د هغو د وېش، ټاکلو او له هغې نه د منظمې استفادې کولو په برخه کښې انسانانو ډېرې ستونځې درلودې، دوړځې به یې وخت د لمر په ګرځېدو او حرکت ټاکه او د شپې به یې د ستورو په یون ځان ته وخت معلوماوه خو کله- کله به بیا وریځو او توپانونو د دوی ټول پروګرامونه ګډوډ کړل او له دوی نه به یې له وخت نه د سمې او منظمې استفادې امکانات واخیستل!
مهیمن وپوښتل ښوونکی صاحب، ساعت لومړی ځل چا اختراع کړ؟

ښوونکي ورته وویل: انسانانو تـه دوخـت د ارزښت لـه املـه دوی لـه ډېر پخوا نه د هغه د معلومولو له پاره هڅه کوله او په دې لاره کښې پرله پسې تجربـې روانې وې تر میلاد اته سوه تر زرکاله وړاندې د لمر ساعتونه جوړ شـوي وو چـې د لمر له مخې به يې د ورځې ښلې- ښلې برخې ټاکلې چې دا ډول ساعت د مصـر د فرعونانو په وخت کښې جوړ شوی او تر لاسه شوې نمونه يـې د برلـېن پـه مـوزيم کښې خوندي ده. بیا د سپوږمۍ او ستورو په حرکت هـم سـاعتونه جـوړ شـوی، د اوبو او اور ساعتونه هم وو، خو د ټولو کار نیمګړی او نا مکمل وُ.

مجیب وپوښتل: ساعت چا بشپړ کړ او څنګه يې بشپړ کړ؟


ښوونکي ورته وویل: مسلمانانو ته وخت له دې املــه چـې پـه ورځ کـښې پنځه وخته لمونځونه کوي او پـه کـال کـښې دېرش ورځې لـه سـپېده چـاوده تـر ماښامه روژه نیسي، ډېر ارزښت درلود، وایي چې اړتیا د ایجـاد مـور ده نـو څکـه مسلمانانو ساعت بشپړ کړ، دې ساعت ډېره ابتدایي بڼه درلوده، ریګي سـاعتونه لـه همدې ډول ساعتونو څخه وو چې بیا وروسته تر اوږدو تجربـو او د ګڼو کسـانو پـه وسیله د ساعت ښلا ښلې پرزې جوړې او ساعت تکمیل شو.

احمد پوښتنه وکړه: افغانستان ته ساعت څه وخت راغلی؟

ښوونکي ځواب ورکړ: واړه ساعتونه له پخوا نـه افغانسـتان تـه راغلـي دي خو ډېر لوی ساعت چې هېواد ته راغلی دی د هغې عمر څه کم يـوه پـېړۍ دی، دا ساعت د کابل د ارګ‌هغه زنګي ساعت دی چې د ۱۲۹۰ لمریـز (۱۹۱۱) کـال شاوخوا په یوه لوړ برج کښې نصب شوی دی. دا بـرج لـه ځمکـې نـه تـر پـوښښه پورې سل فوټه لوړ دی چې په اتیایم فوټ کښې يې یو لوی ساعت ځای پـر ځای شوی چې څلورو خواوو ته ستنې لـري او ټول پـر يـوه ماشـین چورلـېږي. د بـرج دننني سور ۱۲ په ۱۲ فوټه کښې دی.

محمـد اعظـم وویـل: دا سـاعت لـه کومـه ځایـه راوړل شـوی او نـورې ځانګړنې يې څه دي؟

ښوونکي ورته وویل: دا ساعت د لندن پـه "جویـس" نومـي کمپنـی کـښې جوړ شوی چې د مستر "ملر" په وسیله راغوښتل شوی او د ده تر څارنه لانـدې پـه برج کښې ځای پر ځای شوی دی. دا ساعت په هغه وخت کښې پـه نه زره پنځه



د دلکشاپه بڼ کښې د لوی زنګي ساعت څلی

سوه هندي کلدارو اخيستل شـوی دی. دې ساعت خپلـو څلـور واړو مخونـو تـه روښانه ښيښې درلودې چې د شپې له خوابه يې شـاته څراغ لـګول کـېده او ټول مخونه به يې خپلې- خپلې خواته خلکو ته تر لرې- لرې ښکارېدل او وخت به يـې پرې معلوماوه، په دې سربېره ساعت يو زنګ هم درلـود چـې وزن يـې تقريبـاً دوه خرواره ( تريو ټن زيات) دی اود هر ساعت په تېرېدو به په کلنګ وهـل کـېده، پـه يوه بجه به يې يو ځل، پـه دوو بجـو دوه ځلـه او همداسـې پـه ۱۲ بجـو دوولس زنګونه وهل اوپه هر پاو به يې يو ترنګ کاوه.

زلمي وپوښتل: استاده همدا يو ساعت وُ که بيا يې نور هم راوړل؟

ښوونکي ځواب ورکړ: بيـا څو کالـه وروسـته يـو بـل دا ډول سـاعت هـم راوړل شو او د حضوری چمن په ختمېدو د محمود خان پله په څلـور لارې کـښې برج ورته جوړ شو او هغه هم د لومړني ساعت غوندې په کارولوېد.


هېواد وويل: اســتاده دا سـاعتونه چـې دومـره درانـه وو او دومـره لـوی زنګونه يې درلودل د دوی خو به غږ هم ` لوړ او ځوروونکی وُ.

استاد وويل: رښتيا هم چې غږيې ډېر لوړ، دروند وُ او تر لرې-لـرې رسـېده خو په عين حال کښې يې غږ نرم، خوږ او لکـه ديـوې پيـانود غـږ غونـدې خـوش آينده وُ چې خلکو به په مينه اورېده. ټکونه به يې شـمېرل او د شـپې او ورځې بـه يې په ليرې- ليرې ځايونو کښې د هغو ضربو ته غوږ ايښی وُ او وخت بـه يـې پـرې معلوماوه.

شاکر په تلوسه پوښتنه وکړه: استاده اوس هم دا ساعتونه شته که نه؟

ښوونکي په افسوس ووېل: نه بچيـانو دا دواړه سـاعتونه اوس نشته. د ارګ د برج ساعت د ۱۳۵۷ کا ل د غويي د خونړۍ کودتا په لومړۍ ورځ له الوتکې نـه په راغورځول شوي بم ولګېده او د برج د يوې برخې په نړېدو سره له کاره ولـوېد او د پل محمود خان د برج ساعت بيا تر ۱۳۷۱ کال راو وروسته په تنظيمي جـګړو کښې په ورو- ورو راونړېد او اوس يې د ساعت څه چې د برج نخښه هم نشته-

## دوهم درس




# توپ

استاد شاګردانو ته وويل: نن د توپ په باب خبرې کوو. توپ يوه لرغونې جنګي وسله او وسيله ده چې زموږ حکومتونو له پخوا څخه درلوده ا و حتى په خپله يې جوړوله. احمد شاه بابا په ۱۱۶۴هـ.ق کال (۱۷۵۱ميلادي) د نيشاپور د نيولو له پاره يو لوى توپ جوړ کړى وُ، يو بل توپ يې چې د هند په جګړو کښې په کاميابۍ تجربه کړى وُ، زمزمه نوميده چې اوس هم د لاهور دموزيم په مخه کښې د دې موزيم د سمبول په توګه ولاړ دى، دا توپ په ۱۷۵۷م کال استاد شاه نظر جوړ کړى چې د ميل اوږده يې څلور متره او ۴۰ سانتي متره او د ميل پېروالي يې ۲۳ سانتي متره دى، همداسې نور توپونه هم دي چې جنګونه پرې شوي او پرې کېدل.

استاد زياته کړه: موږ د دې توپونو خبرې نه کوو بلکه غواړم تاسې ته يو جالب توپ چې د وخت د ټاکلو له پاره استعمالېده درو پېژنم.

شاګردانو په يوه خوله وويل: دا څه ډول توپ وُ؟

استاد ځواب ورکړ: دا توپ د ګذرګاه غونډۍ ته خېژول شوى وُ هره غرمه به په ۱۲ بجو ويشتل کېده او خلک به له غرمې نه خبرېدل، دا ځکه چې هغه



دا هم د ګذرګاه غونډۍ او هغه توپ چې په خپل وخت به ویشتل کېده.


وخت ساعتونه ډېر محدود وو. همداراز په روژه کښې به د روژه مات او د پيشـلمي د بندېدو پر وخت دا توپ ويشتل کېده او خلکو بـه پـه دقـت غـوږ ورتـه ايښی وُ. ماشومانو به د توپ د ډز په اورېدلو سره خوښۍ کولې ا و کورونو تـه بـه راتلـل، د اخترونو شپې به هم د توپ په ګنو ډزو اعلانېدلې او له غږ نـه بـه يـې ډېرلـو خونـد اخيست.

استاد زياته کړه: صوفـی عبدالحميـد خـان کندهـاري دې تـوپ تـه يـوه اتومات ماشه جوړه کړې وه چې ټيک پر دوولس بجو به له ذره بيني ښيـښې څخـه لمر ورلوېده او باروتوته به يې اور ورته کاوه او له دې سـره بـه تـوپ پـه خپلـه ډز کاوه. په دې توګه به خلک په وخت پوهېدل د غرمې له توپ سره به يې د غرمـې ډوډۍ خوړله او د روژه مات په توپ به يې روژه ماتوله او د پېشلمي پـه وخـت بـه يې د توپ له ډز سره خواړه بس کول او روژه به يې پيلوله.

د ګذرګاه د توپ توپچی صابر نومېده چې کلونه- کلونـه يـې دا خدمـت کړی وُ. د ګذرګاه توپ او د هغه دروند غږ د هر چا له پاره اشنا وُ او د هغه د غږ په اورېدو سره به لويان او واړه، نر او ښځې پـه ګډه دسـترخوان ته راغونـدېدل. ډوډۍ به يې سنبالوله او د خپلو مېلمنو عزت به يې کاوه، صابر توپچی پـه ډېرلـو ډېر زيـات ګران وُ او له خپل توپ سره يې د ده مينـې پـه بـاب ګڼې کيسـې او روايـات جـوړ کړي دي.

## درېيم درس

# برېښنا



ښوونکي شاګردانو ته تر ښه راغلاست وروسته وويل: نن ديوې داسې اختراع په باب در سره غږېږم چې د تمدن ټولو وسايلو ته يې نوې ساور کړه او دعلمي پر مختګ دګرنديتا به ماشين يې ډېر چټک او ګرندی کړ، خو مخکښې له دې چې پر موضوع وغږېږم، تاسو ووایاست چې زه به کومه اختراع ښيم؟

يوه دالوتکې نوم واخيست، بل د کښتۍ او بل د موټر خو بيا ګڼو زده کوونکو په يوه خوله وويل: استاد برېښنا ښيي!

استاد په موسکا کښې افرين ورکړ او ويې ويل: ښخي سمه ده، زه نن له ستاسو سره د برېښنا يا برق په باب خبرې کوم.

زده کوونکو وويل: ډېره ښه موضوع ده.

استاد په دې اړه خپل معلومات بيان کړل: په اتلسمه پېړۍ کښې د اسماني برېښنا (برق) او مقناطيس د اغېزو کشفېدلو پر برېښنا باندې علمي تجربې چټکې کړې، د نولسمې پېړۍ په درېمه لسيزه کښې د برېښنا له ځواک نه په پراخه پيمانه ګټه واخيستله شوه او راز- راز ماشينونه د برېښنا په وسيله وڅرخېدل او د برېښنا زېږولو ماشينونه جوړ شول او بيا اديسون د برېښنا د ځواک په وسيله د ګروپ روښانه کول هم ايجاد کړل او د برېښنا ارزښت نور هم زيات شو او له برېښنا نه د ګټې اخيستلو ساحه ورځ په ورځ پراخه شوه.

خالد ویوښتل: افغانستان ته برېښنا څه وخت راغله؟

ښوونکي ځواب ورکړ: سندونه ښيي چې امير عبدالرحمن خان د برېښنـا د په کار اچولو له پاره اقدامات کړي وو او يو داسې ډاينمـو يـې پـه کـار اچـولی ؤ چې ځلوېښت څراغونه يې بلولای شول. د امير حبيب الله خان په وخت کښې لـه بټريو نه دومره برېښنا تر لاسه کېده چې دشپې به يې ارګ روښانه کاوه، د (۱۰) ولـټه برېښنا له پاره ۵۵ بټرۍ په کار وې او د ۲۲۰ ولټه برېښنا له پاره بيا ۱۱۰ دانې. بـټرۍ به د ورځې په لمر چارجېدلې او د يوې شپې له پاره به يې کار ورکاوه.

استاد زياته کړه: پـه ۱۹۰۴م کـال کـښې چـې د سـينما ماشـين انګرېزانـو افغانستان ته راوړی ؤ هغه هم په همدې بټريو چالانېده خو بيا حکومـت پـه جبـل سراج کښې داوبو د برېښنا فابريکه تر کار لاندې ونيـوه او پـه سـراجی دوره کـښې يې کار بشپړ شو.

حامد ویوښتل: تر دې وروسته بيا په هېواد کښې برېښنا عامه شوه؟

ښوونکي وويل: د امير حبيب الله خان په وخت کښې د اوبو له برېښنـا نـه کار وانه خيستل شو خو د خپلواکۍ تر ترلاسه کېدو وروسته دا فابريکه فعالـه شـوه. د دې فابريکې ماشينونه امريکايي وو چې د انګرېزانو په وسـيله راوړل شـوي او د مستر "جويت" په نامه امريکايي انجنير ورسره راغلی ؤ.

د دې برېښنا د فابريکې بنسټ په ۱۲۹۲لمريز (۱۹۱۳م) کال کښېښودل شـو او تر ۱۹۱۹کال پورې وخت د ماشينونو په نصبولو تېر شـو، کلـه چـې اعليحضرت امان الله خان د خپلواکۍ اعلان وکړ نو نوموړي امريکايي د برېښنا د ماشـين يـوه حساسه پرزه له ځانه سره يو ړه او خپل هېواد ته ستون شو چې بيـا د هندوسـتاني کار ګرانو په وسيله دا پرزه جوړه شـوه او برېښنـا د اعليحضـرت امـان الله خـان د واکمنۍ په لومړی کال په توليد پيل وکړ او د ارګ سلامخانه پرې روښانه شوه.

استاد زياته کړه: د جبل السراج د برېښنا فابريکې دومره برېښنا زېږوله چـې د هغې وخت ټول کابل ښار يې روښانولای شو.

يما ویوښتل: د برېښنا د خطرونو په باب له چاسره وېره نه وه؟

استاد وويل: د برېښنا په باب يوه جالبه خاطره هم شـته، کلـه چـې د امـــان الله خان د واکمنۍ يو کال تېر شو نو د يو کلن رپوټ دوراندې کولو لـه پـاره يـې پـه

سلامخانه کښې یو لوی مجلس جوړ کړي و چې د حربیې او حبیبیې زده کوونکــې یې هم ورغوښتي وو، ده په دې مجلس کښې په یو کلنو کارونو خــبرې کولــې او د برېښنا برخې ته چې را ورسېده نو یوه زرشمه ګروپ ته یې لاس ونیــو او وې ویــل: برېښنا څومره لوی نعمت دی چې له شپې نه ورځ جوړوي، لــه دې ســره دا ګروپ وچاود او بادباد شو. ده په خندا حاضرینو ته وویل: اوس ښکاره شوه چــې ډېر بــد نظر لرم نور به احتیاط کوم چې څوک په نظر نه کړم! ټولو حاضرینو وخندل.

استاد زیاته کړه: د برېښنا خطرونه خلکو ته ور په ګوته شــول او د برېښنــا د سمې توزیع له پاره "د تنویراتو شرکت" جوړ شو چې تر ۱۳۰۷ کال پورې یــې پــه کابل ښار کښې اتلس زره څراغه برېښنا په کورونو وېشلې وه او بیا همهغــه وخــت د برېښنا نورې- وړې وړې دستګاوې هم جوړې شوې.

خالد وویل: په افغانستان کښې خو د برېښنا زېږولو له پاره د اوبــو امکانــات زیات دي نو دنورو لویو فابریکو جوړولو ته اقدام ونه شو!

استاد وویل: ولې نه اقدام وشو دوردګو دچک د برېښنا فابریکه، د کندهــار او هلمند د برېښنا فابریکې، د ماهیپرو ســروبی، نغلــو، او درونــټې او ځینــې نــورې فابریکې جوړې شوې خو بیا هم د برېښنا صنعت په ټول هېواد کښې خــور نــه شــو او د هیواد زیاتو ولایاتو برېښنا نه درلوده سره له دې چې زموږ پــه هــېواد کــښې د برېښنا زېږولو امکانات دومره زیات، اسانه او ارزانه دي چې که اقــدام ورتــه شــوی وای نو نه یوازې زموږ د هېواد، بلکه د ګاونډیو هېوادو اړتیا یې هم پوره کوله.

خلورم درس

# ټېلګراف

ښوونکی په ټولګی کښې ودرېد اوویې ویل: ګرانو زده کوونکو! دا دی نن به بیا هم په یوه ساینسی ایجاد غږېږو، تاسو وواياست چې په کوم څيز خبرې وکړو؟

زمرک وويل: استاده نن په ټېلګراف راته وغږېږه!

ښوونکي وويل: ډېره ښه ده! ټېلګراف دوه ډولونه لري یو بې سیم او بل سیم لرونکی ټېلګراف دی. د تمدن له پرمختګ سره انسانانو اړه درلوده چې له یوه ځای نه بل ځای ته په ډېر لږ وخت کښې خپل پیغام ولېږ دوي نو ټېلګراف د همدې اړتیا دلېږ کولو له پاره جوړ شو.

ګلزرک وويل: استاده ټېلګراف چا اختراع کړی دی؟

ښوونکي په موسکا وويل: زه هم همدې خبرې ته راروان یم: د ټېلګراف لومړی مخترع د موریس په نامه یو امریکایی دی چې په ۱۸۴۴میلادي کال کښې يې ټېلګراف په کار واچاوه. ده تورو ته له ټکیو او خطونو څخه اشارې جوړې کړې چې په برقي څپو اوښتې. ټېلګراف مرسله او آخذه د ستګاه درلوده چې مرسلې توري برښنا ایزکول او آخذې هم له هوایي څپونه اخیستل او بېرته يې په تورو اړول او پر کاغذ يې لیکل. د تلیفون تر اختراع وروسته سیم لرونکی تلګراف هم جوړ شو.

احمد پوښتنه وکړه: استاده افغانستان ته تلګراف څه وخت راغلی؟

ښوونکي په خوښۍ ووېل: د دې هم عجیبه کیسه ده، د لومړۍ نړیوالې جګړې په وخت په ۱۹۱۴ میلادي کال کښې د آلمان، اتریش او ترکیې یو ګډ هیات کابل ته راغلی وُ، دوی د نوروسیاسي چارو تر څنګ د افغانستان د اردو په تنظیم هم لاس پورې کړ، چې د خپل کار په جریان کښې یې په تحویلخانه کښې د بې سیم تیلګراف یوه مکمله دستګاه بیا مونده چې امیر ته له پخوا نه سوغات رالېږل شوې وه او د هیات یوه آلماني غړي رولاندتر ترمیم وروسته د بابر باغ په غره کښې نصب او فعاله کړه چې د هندوستان د تلګرافخانې غړېې پرې اورېده. هندي قونسل هم تر خبرېدو وروسته له همدې تلګراف نه د خپل دولت شفرونه اخیستل.

ښوونکي زیاته کړه: دا دستګاه د مارکنی په کمپنۍ کښې جوړه شوې وه او په دوه کیلو واټه قوه یې کار کاوه. اساساً دا دستګاه چې د څاروو په وسیله له یوه ځای نه بل ځای ته لېږدېدله د عسکري مخابرې له پاره وه چې د اړتیا په وخت کښې له کابل نه پغمان او جبل السراج ته مخابره پرې کېدله. دا دستګاه د کار کوونکو د نابلدۍ له امله له کاره ولوېده.

سهیل ووېل: بیا څه وخت تلګراف هېواد ته راغی؟

ښوونکي بیا هم د موسکا په ترخ کښې ووېل: خپلواکي ډېر لوی نعمت دي، کله چې افغانستان په ۱۹۱۹ کال خپله خپلواکي اعلان کړه نو هر هېواد هڅه کوله چې له افغانستان سره ځان لنډ کړي او تحفې ورکړي، د انګرېزانو د سولې هیات چې د "هنری دابس" په مشرۍ کابل ته راغلی وُ له ځانه سره یې د بې سیم تلګراف یوه دستګاه هم راوړې وه چې په منځنۍ څپه یې د سل واټو په قوه کار کاوه او تر پېښور پورې تلګرافي مخابره پرې کېدله، نوموړی هیات د بیرته تلو په وخت دا دستګاه د افغانستان حکومت ته وروبخښله او د تېلګرافي چارو د زده کولو له پاره یې شپږ تنه افغاني ځوانان هم له ځانه سره بوتلل چې زده کړه ورکړي. همدا راز د شوروي روسیې استاځي سوریس هم په ۱۹۲۰ کال کښې د بې سیم تلګراف یوه دستګاه له ځانه سره راوړه او د افغانستان د باندنیو چارو وزارت په نامه له یوه رسمي یادښت سره یې د افغانستان خپلواک هېواد ته د

روسيې له خوا د يوه سوغات په توګه وړاندې کړه. دا دستګاه په ارګ‌کښې په کار واچول شوه او له تاشکند او پېښور سره يې تلګرافي اړيکي ساتل.

شيندی ګل وويل: سيم لرونکی ټېلګراف بيا څه وخت افغانستان ته راغلی؟

ښوونکي وويل: ما مخکښې ياده کړه چې سيم لرونکی ټېلګراف تر تلېفون وروسته اختراع شوی نو له دې امله افغانستان ته هم سيم لرونکی ټېلګراف تر بې سيم هغې وروسته راغلی، په ۱۳۰٦ (۱۹۲۵) کال کښې د سيم لرونکي ټېلګراف لين هم له کابل نه تر تورخم پورې په يوه لينه توګه وغځول شو او د هغې د زده کړې له پاره يې شل تنه افغاني زده کوونکي ومنل، همدا راز له روسيې سره هم د تورغونډۍ تر پولې پورې د سيم لرونکي ټېلګراف د غځولو موافقه وشوه او دې خواته هم يو لينه ټېلګراف وغځول شو. د مزار شريف په لاره هم د ټېلګراف د لين غځولو موافقه وشوه. او هم په دې برخه کښې د افغاني ځوانانو د روزلو له پاره يو ښوونځی په هرات کښې د روسی متخصصينو تر نظر لاندې اوبل ښوونځی په کابل کښې د ترکيې استادانو په لارښوونه جوړ شو او ځوانان يې وروزل او په هېواد کښې د ننه هم له ټېلګراف نه کار واخيستل شو.

استاد زياته کړه: ټېلګراف په افغانستان کښې ورو- ورو پراختيا وموندله او په ۱۹۲۸ کال افغانستان د ټېلګراف په نړېواله اتحاديه کښې شامل شو او د هېواد ټېلګرافی دستګاوې وخت په وخت بدلې او پر مختللې شوې.

## پنځم درس




ښوونکي تر سلام او سترې مه شي وروسته زده کوونکو تـه وویـل: نـن بیـا هم د تمدن په سوغاتونو غږېږو تاسو د نن ورځې د درس موضوع خوښه کړئ!

مهیمن لاس جګ کـړ اود ننـنـۍ درس د موضـوع پـه بـاب یـې د وړاندیـز اجازه وغوښته ښوونکي اجازه ورکړه، ده وویل: ښوونکی صاحب تاسو په تېر درس کښې د ټېلګراف تر څنګ د ټلیفون یادونه هم کړې وه نو نن به په ټلیفـون خـبرې وکړو.

ښوونکـي وویـل: آفریـن! ښه وړاندیـز دی، د ادی زمـوږ نننـۍ موضـوع د ټلیفون په هکله ده. د ټلیفون معنی " له لرې خبرې" ده، دټلیفـون د جوړولـو پـه بـاب په ۱۸۵۴ کال د "بروسل" په نامه یوه فرانسوي یو کتاب ولیکه او د ټلیفـون تېوري یې پکښې وړاندې کړه خو پـه ۱۸۶۷ کـال د "ګراهـام بـېل" پـه نامـه یـوه امریکـایي ټلیفـون کشـف او جوړ کـړ، ټلیفـون پـه اولـه کښې زیـات کـړاو غـوښت چې یـوه تـن "آپریـتر" بـه هغـه رخ کـاوه خو پـه ۱۸۹۱ کـال د اتومـات ټلیفـون پـه جوړېدلـو سـره د مخابرې سیستم آسانه شو.

- یما وپوښتل: استاده افغانستان ته ټلیفون څه وخت راغی؟

ښوونکی بیا وموسید اوویې ویل: د دې کیسه هم ډېره په زړه پورې ده، د امیر عبدالرحمن خان د واکمنۍ په وخت په ۱۸۹۵م کال کښې د ده زوی سردار نصر الله خان د انګلستان په سفر تللی وُ، ده ته د نورو سوغاتونو تر څنګ د ټلیفون یوه دستګاه هم ورکړه شوې وه او ده بې له دې چې اهمیت ته یې پاملرنه وکړي په تحویلخانه کښې اچولې وه، خو کله چې په ۱۸۹۹ کال نرنداس نومي هندی د ولایتي اوبو (شربتونو) د جوړولوله پاره افغانستان ته راغی دلته یې دا دستګاه په تحویلخانه کښې ولیدله نو سردار نصر الله خان ته یې وویل چې دی د ټلیفون په کار هم پوهېږي همغه وُ چې دولیعهد سردار حبیب الله خان په اجازه یې د ټلیفون لومړی لین چې په یوه لینه مسی سیم یې کار کاوه د سردار حبیب الله خان او سردار نصر الله خان د استوګنځیو تر منځ چې یو کیلومتر واټن یې درلود، وغځاوه؛ دوهم لین د سردار حبیب الله خان له استوګنځي څخه د کوتوالی قوماندانۍ ته تېر شو، دریم لین د ارګ له دروازې څخه د بابر تر باغه پورې تمدید شو. څلورم لین داعیانو له ودانۍ څخه چهل ستون ته وغځول شو، همدا راز د بابر د باغ لین راغوند او باغ بالا ته یوړل شو او یو کال وروسته د ټلیفون یو اوږد لین د سردار نصر الله خان له استوګنځي څخه چهل ستون او بیا پغمان ته وغځول شو.

جلال ویپوښتل: د ټلیفون د زده کړې له پاره څه کارونه شو؟

ښوونکي وویل: ولې نه! په همغه لومړی کال چې ټلیفون په کابل کښې خبرې کولې څلور تنه افغاني ځوانان نوموړي نرنداس د ټلیفون د چارو له پاره تر روزنه لاندې ونیول خو له افغانستان نه د نرنداس په ایستل کېدو د ټلیفون ساحه هغه وخت محدوده پاتې شوه.

هیمن وویل: استاده په راوروسته کښې د ټلیفون له پاره بیا څه وشول؟

ښوونکي وویل: که هر څوستونځې را پېښې شي خو بیا هم ژوندون پر مخ روان وی، تمدن پر مخ روان وی، علم او تخنیک دنیا سره لنډوي، ملتونه او هېوادونه مجرد ژوند نه شي کولای نو په دې بنا په افغانستان کښې هم ژوند له ستونځو سره سره خپله لاره وهله. د امیر حبیب الله خان په وخت کښې دټلیفون د پراختیا اړتیا نوره هم زیاته شوه او بیا هم له هندوستان نه د ټلیفون یو ۲۵ لینه

سوچبورد راوړل شو او پخواني یوستوی ټلیفونونه ټول په هغه کښې ځای پر ځای شول او همدا د هېواد لومړنی ټلیفوني مرکز بللای شو. د ۱۹۰۹م کال شا او خوا له کابل نه تر جلال اباد پورې یو دوه لینه ټلیفون وغځول شو چې په هر رباط کښې یې د نیم لاریزه کولو غوږۍ درلودې. بیا له جلال اباد نه تر لغمان پورې هم د ټلیفون لین تېر شو.

عبدالحمید په ډېره تلوسه پوښتنه وکړه: عامو خلکو له دې ټلیفونونه استفاده کولای شوه که نه؟

ښوونکي په شمېرلو الفاظو وویل: تر دې وخته ټلیفون یوازې د لویو کسانو او د سرکاري چارو له پاره و خو د ټلیفون له پراختیا سره د خلکو له پاره محصولي مخابرې هم پیل شوې، یعنی هر چا چې غوښتل له کابل نه ننګرهار یا له ننګرهار نه کابل ته مخابره وکړي کولای یې شول. خو خبرې یې مخامخ نه وې، هر چا به خپلې لیکلې خبرې ټلیفون ته سپارلې، هغه به د مقابل لوري ټلیفوني ته ویلې، هغه به مطلوب شخص ته رسولې او ځواب به بېرته همدا ډول را غبرګېده. هماغه وخت دمخابرې بیه د دوو پیسو سره برابره او د ټول کال د ټلیفون لاس ته راغلی محصول دوه زره کابلۍ روپۍ کېدلې.

ښوونکي زیاته کړه: داعلیحضرت امان الله خان د واکمنۍ په پیل کښې پر دې ۲۵ لینه ټلیفون سربېره یو ۵۰ لینه سوچبورد هم د شاه دو شمشېره له پله سره نژدې په پوسته خانه کښې نصب شو خو بیا څو کاله وروسته پر دې سربېره یو ۱۰۰ لینه سوچبورد هم کښېښودل شو او بیا ټول هېواد ته د ټلیفون سیمونه وغځول شول او هېواد د ټلیفون تر پراخه جال لاندې راغی چې ورځ په ورځ پراخه او په مرکز او ولایاتو کښې د ټلیفون غوږۍ په ګڼ شمېر کښې وشرنګېدې او له بهرنیو هېوادونو سره ټلیفوني اړیکي ټینګ شول.

شپږم درس

# راډیو

د ساینس ښوونکي تر جوړ تازه وروسته زده کوونکو ته وویل: نن به هم په ساینسي ایجاداتو خبرې کوو خو مخکښې له دې چې بحث پیل کړو، زه له تاسو نه پوښتنم چې راډیو پېژنئ؟

زده کوونکو په یوه خوله وویل: هو! راډیو خو د خبرېدو او تفریح ډېره ښه وسیله ده او په هر کور کښې ځای لري.

استاد وپوښتل: پوهېږئ چې څنګه او چا اختراع کړه؟

مهیمن وویل: ماته مې پلار د یوه معلوماتي کتاب له مخې وویل چې د بې سیم تلګراف پر مخنګ راډیو وزېږوله او د ګنو پوهانو تر نظري هڅو وروسته راډیو جوړه شوه.

استاد وویل: هو! ستا معلومات درست دي، الماني هرتس د ریاضي د معادلو له مخې ثابته کړه چې په فضا کښې د برېښنا قوه د څپو په بڼه لېږل کېدای شي او د انسان د خبرو یانو روغږونو څپې برېښنا ایزې کولای شو چې لېرې ملکونو ته رسېږي او همدا تجربه د بې سیم تلګراف د بنیاد خښته شوه او بیا ایټالوی پوه "مارکنی" د همدې تجربې په رڼا کښې په ۱۸۹۵م کال راډیو جوړه او په لندن کښې د خلکو ننداري ته وړاندې کړه چې په شلمه پېړۍ کښې یې چټکه پراختیا وکړه او دا دی اوس ګورو چې په نړۍ کښې ډېرې حساسې راډیو ګانې جوړې شوې دي.

یما وویل: استاده افغانستان ته به راډیو ډېره وروسته راغلې وي که څنګه؟


استاد په موسکا وویل: دا هم جالبه ده چې افغانستان ته راډیو ډېره پخوا او په همهغه وخت کښې چې لا په خاړپو څو وه، راغلې ده. داعلیحضرت غازي امان الله خان حکومت په ۱۳۰۴ لمریز کال عطاء الله خان د راډیو تخنیک د زده کړو له پاره المان ته ولېږه چې په ۱۳۰۵ کال له څو تنو المانیانو او د راډیو له دوو لېږونکو دستګاو سره بېرته هېواد ته راستون شو، دلته په چټکۍ د راډیو د سټډیو او مرسلې د جوړولو کار پیل شو، د ۱۳۰٦ش کال په تله کښې راډیو خپل ټول قانوني مراحل طی کړل او په همدې کال یې د خپلې ځانګړې لایحې له مخې په خپرونو پیل وکړ. د سندرو او خپرو نو خپرول د راډیو مهمه برخه وه. مدیر یې محمد محسن نومېده؛ ویاند یې ښاغلی سرور ګویا او استاد قاسم، استاد غلام حسین استاد نتو، قربان علی ربابي اونورو سندرې پکښې ویلې او سازونه یې پکښې خپرول.

ګل محمد وویل: استاده د راډیو سټډیو چېرته وه؟

ښوونکي وویل: دا هم په جالب ځای کښې وه، کومه ودانۍ چې راډیو پکښې جوړه شوې وه لندني کوټۍ یې بلله او دا ځکه کله چې سردار نصر الله خان په ۱۸۹۵م کال لندن ته په سفر تللي و په بېرته راتلو کښې یې د لندن د ودانیو نقشه هم له ځانه سره راوړې وه او دا کوټۍ د همهغه نقشې له مخې د لندن د ودانیو په سبک جوړه شوه اودا په هېواد کښې د غربي سبک لومړۍ وداني وه، راډیو له همدې کوټۍ نه خپرونې کولې او انتن یې د کوټۍ مخې ته په چمن کښې درول شوی و، لندني کوټۍ د کابل د هارتل پله شمالي اړخ ته د سرې میاشتې اوسنۍ ودانۍ ته مخامخ جوړه شوې وه چې اوس یې پر ځای یووړکي پارک ودان دی. دا هم د یادولو ده کله چې په افغانستان کښې راډیو خپرونې پیل کړې هغه وخت زموږ ګاونډیانو راډیویي نشرات نه درلودل.

مهیمن وپوښتل: استاده د راډیو سیټونه هم بدل وو که نه؟

استاد وویل: هو بچیه! د راډیو سیټونه ډېر ابتدایي وو، په منځ کښې یې څراغ درلود د څراغ|په لګېدلو سره به راډیو تودېدله او بیا به یې خبرې کولې، په یوه لویه بټرۍ به یې کار کاوه چې چار جول او له یوه ځای نه بل ځای ته



لندني کوټي چې راډيو لومړی ځل ترې خپرېده

لېږدول يې ستونځمن وو، داوخت لاد بريښنا راډيو ګانې نه وې جوړې شوې البته يوراز غوړي کرستالي راډيو ګاني هم وې چې بيه يې لږ وه او بريښنا يا بټرۍ ته يې اړه نه دلوده.

استاد زياته کړه:

**د راډيويي خپرونو تر پيلېدو مخکښې، ډېرش پا يې بټرۍ لرونکې راډيو ګانې خلکو ته ووېشل شوې چې د ۱۳۰۷ش کال په اواخرو کښې يې شمېر زردانو ته ورسېده.**

**يما وپوښتل: عامو خلکو له راډيو نه استفاده نه شوه کولای؟**


**ښوونکي ځواب ورکړ: ولې نه؟ په جشنونو او ملي ورځو کښې به يې د خلکو د ګڼې ګوڼې په ځای کښې په پايو کښې لوډسپيکرو نه نصبول او ټولو به يې نشرات اورېدل او په لومړۍ مرحله کښې راډيو معمولا دورځې دوه ساعته خپرونې کولې.**

**خالد ووېل: استاده د راډيو دا دستګاه بيا څه شوه؟**

**ښوونکي دافسوس سروخوځاوه او وې ويل: افغانستان تل د دښمنانو له لاسه نارامه و او وخت په وخت پر هېواد مستقيم يا غير مستقيم تېري شوي د ۱۳۰۷ کال په سقوي اړدوړ کښې د نورو ورانيو تر څنګ د راډيو دا دستګاه هم ورانه شوه او کله چې دنادر خان حکومت وغوښتل هغه بېرته په کار واچوي نو د شوروي د ټېلګراف متخصصين يې راوغوښتل چې هغه فعاله کړي هغوی تر څېړنې وروسته د خپل سفارت له لارې د افغانستان د باندنيو چارو وزارت ته خبرور کړ چې د راډيو تش انتن پاتې دی نور يې د خپرولو او اړتيا وړ ماشينونه مات يا له کاره وتلي دي نو څکه ترميمېدای نه شي او له سره بايد نوي ماشينونه واخيستل شي. همدا و چې تر ډېره وخته د راډيو کار پاتې شو.**

**سهار ګل ووېل: د راډيو جوړولو له پاره بيا څه وخت اقدام وشو؟**

ښوونکي ووېل: دا وخت خلك له راډيو سره بلد شوي او وسمنو خلکو په کابل او ولاياتو کښې راډيو ګانې لرلې چې د نورو هېوادونو خپرونې به يې پکښې اورېدې. له دې امله د افغانستان دولت يو ځل بيا په ۱۳۱۴ کال د راډيو د جوړولو پرېکړه وکړه د پل باغ عمومي جنوبي اړخ ته د راډيو د سټډيو له پاره يوه




هغه سمتي پايه چې په     حلقه يې چوکاټ کېښې به يې لوډ سپکر ځړول شوی و
او خلك به ترې را ټول وو

PROPERTY OF ACKU

لویه وداني جوړه شوه او په یکه توت کښې یې د مرسلې پایې او ماشینونه ودرول شول. په ولایاتو کښې یې لاوډسپیکرې جوړې شوې، د سندرغاړو، هنرمندانو، لیکوالو او ادبیانو ډلې په راډیو کښې د کار له پاره چمتو شوې او بیا د ۱۳۱۹ کال په ژمي کښې راډیو ازموېښتي خپرونې پیل کړې او د ۱۳۲۰ کال دوري له لومړۍ نیټې نه کابل راډیو رسما پرانستل شوه او د صدرات مرستیال او د پوهنې وزیر اروابناد سردار محمد نعیم د راډیو اهداف داسې بیان کړل: ... زموږ راډیو عرفاني ده، د افکارو دروزنې او د قوم د ښوونې او پالنې له پاره ده، د بزګرانو او د کلیو د اصلاح د پاره ده، د بې کارۍ د لېرې کولو او زیار او کار د خپرولو له پاره ده. د سوداګرو او تجارت د پاره ګټوره او د وطني مصنوعاتو د ترویج د پاره ده، د کسب کار او د لاسي او عصري حرفو د ښوونې د پاره ده، د کورنیو د اصلاح د پاره ده، د ملي ژبې د خپرولو او ډېرولو له پاره ده، ددې لپاره ده چې موږ د افغان پخواني ملت په خپل روڼ تاریخ او مفاخرو پوه شو، د دې د پاره ده چې دانګیالي قوم په دیني او اخلاقي نصایحو له عیش پرستۍ او اخلاقي ضعف څخه لرې شي، د دې لپاره ده چې تاسې نوي خبرونه او ځینې تاریخي پروګرامونه واورئ!

ښوونکي زیاته کړه: او په دې ترتیب په هېواد کښې راډیویي خپرونې رواني شوې او پرمختیایي ګامونه یې واخیستل! د راډیو یې نشراتو د تعمیم له پاره حکومت د ښار د ګنې ګوټې په خایونو کښې سمتي پایې جوړې کړې وې او لوی- لوی لوډسپیکر یې پکښې راځړولي وو چې لینونو یې له ستوډیو سره مستقیم تماس درلود. او خلک به پرې را ټول وو.

# اووم درس




ټولګي ته داستاد په ننوتلو سره ټول زده کوونکـي پـاڅېدل او سـلام يـې ورته وکړ، ښوونکي په خاصه مهرباني و عليکم السلام ورته وويـل او بيـا يـې خپلـې خبرې پيل کړې:

د يوه مخترع د قبر په ډبر ليک داسې ليکل شوي:

"هغه وړانګې مجبورې کړې چې د ژوند تېرېدونکې لحظې د تل له پـاره په همهغه ډول چې وې وساتي".

تاسې پوهېږئ چې دا جملې به د څه شي د مخترع پر قـبر ليکلـې شـوې وي؟

څو تنو شاګردانو پرله پسې وويل: نه پوهېږو!

مهيمن ګوته پورته کړه او وې ويـل: فکـر کـوم چـې داسـې عبـارت بـه د عکاسي د مخترع په شناخته ليکل شوی وي!

ښوونکي په زياته خوښي ورته وويل: هو! هو! ښځي سم ځواب دی!

او بيا يې زياته کړه: هسې خو عکاسـي هـم لکـه د زيـاتو نـورو اختراعـاتو غونډې ورو- ورو د ډېرو کسانو په زيار را منځ تـه شـوې او بشـپړتيايي پړاوونـه يـې وهلي دي، د عکاسي واقعي مخترع د "ژوزف نيسه فورنيپس" په نامه يـو فرانسـوی

دی چې د عکس د پاینت په باب یې تجربې وکړې بیا د "ژاک مانده داګر" په نامه یو انځور ګر چې هغه هم په دې باب تجربې کړې وې ورسره ملګری شو. په ۱۸۳۳ (۱۲۱۲لمریز) کال د فورنیپس په مړینه د عکاسی اختراع په نیمایي کښې پاتې شوه چې بیا یې ملګري "ډاګر" بشپړه کړه او د فرانسې د علومو اکاډیمی دالوی کشف ټولې دنیا ته ور یاوراندې کړ. ډاګر په دې اختراع داسې نوم ویوست چې په ۱۸۵۱ (۱۲۳۰لمریز) کال کښې یې د مړینې دود په ډېر درناوي تر سره شو او یا دشوی ډېرلیک یې پر قبرو لیکل شو. عکاسی ورځ په ورځ وده وکړه او اوس داسې حد ته رسېدلې چې د ژوند ټولې خاطرې ورسره تړلې دي.

یما پوښتنه وکړه: عکاسي افغانستان ته څه وخت راغله؟

استاد موسکی شو ویې ویل: عکسونه ډېر پخوا له هندوستان نه افغانستان ته راغلل او افغاني رجال چې هند ته تللي وو عکسونه یې واخیستل خو د عکاسی کامره په خپله د امیر شېر علیخان په وخت یعنې د نولسمې پېړۍ په دوهمه نیمایي کښې افغانستان ته راغله چې د هغې وخت عکسونه یې اخیستي او د امیر شېر علیخان، اولادونو او کابینې عکسونه یې چې د همغه وخت دي تر اوسه راپاتې دي.

استاد زیاته کړه: امیر عبدالرحمان خان د عکاسی یوه جالبه خاطره لري وایي یو وخت یو عکاس راوړاندې شو، کامره یې راته سمه کړه او غوښتل یې چې زما عکس واخلي. خو له ماسره ولاړ نوکر له دې وېرې چې ګرمه وسله ورسره ده او ماپرې ولي. ورمنډې کړې او کامرې ته یې لاس وروا چاوه خو ما ورته وویل: مه کوه په دې عکس اخلي نو بیا یې پرېښود.

عبدالواحد وویل: د عامو خلکو له پاره د عکس اخیستلو زمینه څه وخت برابره شوه؟

استاد وویل: تر دې وخت عکاسي یا په خارج کښې کېده او یا خارجي عکاسان هېواد ته راتلل عکاسي یې کوله خو د امیر حبیب الله خان په وخت کښې افغاني عکاسانو له بهرنیو عکاسانو نه د عکس اخیستلو چل زده کړ او د ۱۲۹۳لمریز (۱۹۱۴م) د غبرګولې په ٦ نیټه په پل باغ عمومي کښې د "عکاسخانه شاهی" په نامه د عکاسی یوه سټډیو جوړه شوه او ماهرو افغاني عکاسانو کار



یو لرغونی عکس چې په افغانستان کښې اخیستل شوی دی.

پکښې کاوه چې طبيعي او يادګاري عکسونه يــې په سـراج الاخبـار کـښې خپـاره شوي له دې ډلې څخه يـار محمـد، در محمـد، احمـد شـاه، ګل محمـد موظـف عکاسان او معـين السـلطنه سـردار عنـايت الله خـان شـوقي عکـاس او د عکســونو وينځونکي او سموونکي د امان بيګ خان په نامه ذي.

استاد زياته کړه: تر دې وروسته په امــاني دوره او بيـا راوروسـته وختونـو کښې د عکاسۍ راز- راز کامرې افغانستان ته راغلې خــو هغـه کـامرې چـې فـوري عکسونه اخلي او د عکاسۍ د لومړنيو وختونو ښکارندو يي کــوي لا تـر اوسـه کـار ورکوي او د قبالو او نورو اسنادو لهپاره خلک عکسونه پرې اخلي.

اتم درس

# سينما

ښوونکي تر سترګې مه شي وروسته وويل: نن به سيل کوو!

مهيمن وويل: پوه شوم نن د سينما په باب راته غږېږئ!

ښوونکي په موسکا وويل: آفرين ښځي سمه ده!

بيا يې وويل: رښتيا تا سوکله سينما ته تللي ياست؟

ټولووويل: نه! استاده! تاسو ته معلومه ده چې زموږ په وخت په هېواد کښې سينما ګانې تړل شوې دي.

استاد وويل: خير که سينما نشته تاريخ خو يې شته، راځئ خبرې پرې کوو. د سينما فکر هم لکه د نورو ګڼو اختراعاتو غوندې په ۱۹ پېړۍ کښې را پيدا شو، تر ۱۸۵۰ کال وروسته پر خوځنده عکسونو تجربې پيل شوې چې د نړۍ د بېلا بېلو هېوادوګڼو پوهانو تجربې پرې وکړې، پيل يې له انګلستانه وشو او د عکس روښانه ښوړونکی څراغ يوه اتريشی جوړ کړ، په ۱۸۶۰ کال کښې د "کلمن سلرز" په نامه يوه امريکايي ديو حرکت دبېلو- بېلو شپږو عسکونه برابر کړل، "جان ايساک" د يوه څغلېدونکي اس بيلې- بېلې لحظې عکاسي کړې، په ۱۸۸۷ کښې "توماس اديسن" هڅه وکړه چې خوځنده عکسونه په يوه پټۍ کښې سره تنظيم کړي، بيا د "جارج استن" تر مرستې وروسته بريالی شو چې په يوه پټه کښې د بېلا

بېلو حرکتونو عکسونه خوندي کړي او له دې سره د فلم اخیستلو بنسټ کېښودل شو او په ۱۸۹۴م کال " اګوست لومیری" نورغورځوونکی جوړ کړ او دپردې پر مخ لومړی فلم وښودل شو.

خالد وویل: استاده موږ اورېدلي چې سینمایي فلمونه لومړی بې غږه وو یوازې خوځنده عکسونه یې ښودل اوبس!

ښوونکي ځواب ورکړ: هوا خالد جانه همداسې ده.


یما وپوښتل: افغانستان ته فلم او سینما څه وخت راغلل؟

ښوونکي په خوښۍ وویل: ګرانه زموږ اصلي موضوع خو همدا ده، هوکې! افغانستان ته سینما د انګرېزانو سوغات ده، کله چې د برتانوي هند د باندنیو چارو سکرتر مستر دین په ۱۹۰۴م کال کښې افغانستان ته له لاسپوځي امیر سره د تحت الحمایګۍ د تړون د تجدید له پاره راته نو د نورو سوغاتونو تر څنګ یې د سینما پروجکتور هم عیاش امیر ته له خانه سره راوړی و چې دی اوګنې ښځې یې فلمونه پکښې وګوري او ساعت یې تېر شي.

استاد زیاته کړه: له دې ماشین سره یې یو کار ګر هم امیر ته وروباخښه او په دې ترتیب لومړی ځل په افغانستان کښې د سینما په پرده عکسونه وګرځېدل او سینما افغانستان ته راغله.

خالد پوښتنه وکړه: استاده سینما څه وخت عامه شوه؟

ښوونکي وویل: د افغانستان د خپلواکۍ تر ترلاسه کېدوو وروسته د ټولنیز ژوند په هره برخه کښې نوي ګامونه واخیستل شول، له دې سره دتمدن سوغاتونه هم را ډېر شول او په دې لړ کښې د سینما په برخه کښې هم نوي اقدامات وشول. په اماني دوره کښې لومړی ځل سینما د ارګ د سلامخانې په برنده کښې د خلکو د تماشې له پاره په کار واچوله شوه خو بیا د امیر عبدالرحمان خان د وخت په سلامخانه کښې د استقلال دلیسې تر څنګ دایمي سینما جوړه شوه چې د کابل سینما بلله کېده او د زرنګار پارک جوړېدو تر وخته (۱۳۴۲م لمریز) ودانه وه.



د پغمان سینما ودانۍ چې، په سقوي اړدوړ کښې سوځول شوی ده

ښوونکي زياته کړه: هغه وخت سينما غږ نه درلود او چوپ فلمونه به پکښې ښودل کېدل د دې له پاره چې د فلم ليدونکي بوخت وساتل شي د پردې تر څنګ به فرخ افندی ويلون او غلام حسين پيانو غږول.

مهيمن وويل: استاده همدا يوه سينما جوړه شوې وه؟

ښوونکي په تبسم ځواب ورکړ: له کابل سربېره د پغمان سينما تياتر په نامه په پغمان کښې هم يوه ډېره عصري ودانۍ جوړه شوې وه چې د سوونو کسانو د ناستې له پاره يې ځوکۍ درلودې. په دې ودانۍ کښې پر فلمونو سربېره ډرامې هم ښودل کېدې او د جشن په شپو ورځو کښې به يې د ډرامې او فلمونو بېلا بېل نمايشونه درلودل.

استاد زياته کړه: د پغمان سينما په سقوي اړدوړ کښې وسوځوله شوه او بيا په ظاهر شاهی دوره کښې په کابل او ولاياتو کښې ګڼې سينماګانې جوړې شوې لکه پامير سينما، بهزاد سينما، ميوند سينما، آريانا سينما، پارک سينما، آريوب سينما او نورې.

خالد وپوښتل: استاده فلم جوړول هم په افغانستان کښې شروع شول که نه؟

استاد وويل: هو! په ۱۳۲۵ لمريز کال کښې د "عشق او دوستی" په نامه لومړنی فلم افغانانو جوړ کړ چې ليکونکي يې اروانباد رشيد لطيفي ؤ او په برتانوي هند کښې ډک کړای شو، بيا د ۴۰ په لسيزه کښې د فلم ډکولو دستګاه هېواد ته راوړله شوه چې ځينې فلمونه ډک کړای شول خو په افغانستان کښې فلم د يوه تجارتي صنعت په توګه وده ونه کړای شوه.

نهم درس

# تلویزیون

د ساینس ښوونکي خپلو زده کوونکو ته تر ښه راغلاست وروسته وویل: خوږو شاګردانو د ساینسي ایجاداتو خوږو درسونو ته دوام ورکوو، د نن ورځې له پاره بیا هم تاسې موضوع وټاکئ چې پرې وغږېږو!

مهیمن اجازه وغوښته په موسکا یې وویل: په راډیو مو په مخکښې درسونو کښې خبرې کړې وې نن به د راډیو پر کوچني ورور تلویزیون خبرې وکړو!

ټولو زده کوونکو د دې وړاندیز تایید وکړ او ښوونکي وویل: زماهم خوښه ده نن به تلویزیون ګورو، نو راځئ د تلویزیون ننداره ته کښېنو.

د تلویزیون معنی "لروینون" له لرې لیدل دي او په داسې سیستم جوړ شوی چې بریښنا ایزې څپې غږ او عکس دواړه له مرسلې نه اخلي او د تلویزیون په پایه کښې یې پلی کوي. د تلویزیون څپې مخامخ یون کوي نو ځکه یې لوړې او غرونه مخه نیسي او د نشریه ساحه کښې یې محدودیتونه راځي.

احمد وویل: د تلویزیون مخترع څوک او چېرې لومړی ځل جوړ شوی دی؟

ښوونکي وویل: د تلویزیون په جوړولو ډېرو کسانو ځانونه ستړي کړي څو دې مرحلې ته را رسېدلی، لومړی ځل په ۱۸۷۳کال یوه برتانوي تلګرافر "مې" پر

بربېښنا ایز جریان د رڼاد بدلولو مفکوره را منځ ته کړه، په ۱۸۸۸م کال کښې هالواچس د فوټو بر پښنا پراغېزو تجربې وکړې او بیا د انګلیسي برد او امریکایي جنکنز په هڅو په ۱۹۲۵م کال په څپو کښې د عکس لېږدولو تجربه کامیابه شوه او بیا یو شمېر نورو پوهانو د دې کار په بشپړتابه کښې هڅې وکړې او لومړنی تلویزیوني تجربې وشوې څو لومړی ځل د تلویزیون اساسي او عمومي ننداره په ۱۹۳۶م کال په لندن کښې وښودله شوه او ورپسې نورو هېوادونو ته تلویزیوني خپرونې وغځېدې، ورو- ورو یې وده وکړه او اوس د مصنوعي سپوږمیو (سټلایټ) په مرسته د تلویزیوني غږونو او تصویرونه تر لرې- لرې پورې خپرېږي.

عبدالرشید وویل: په افغانستان کښې تلویزیون څه وخت فعال شوی او خپرونې یې پیل کړې دي؟

ښوونکي وویل: په افغانستان کښې تلویزیون د راډیو په خلاف ډېر وروسته پیل شوی، یو خو افغانستان غرنی هېوا د دی او د تلویزیون شبکې په سختی پکښې غځولې کېږي او بل افغانستان تر تلویزیون نورې زیاتې اړتیاوې درلودې له دې امله وو چې د تلویزیون جوړولو ته ډېر وروسته اقدام وشو.

استاد زیاته کړه: په افغانستان کښې د تلویزیون سټډیو د جوړولو له پاره په ۱۳۵۱ کال د اروانښاد محمد موسی شفیق د صدارت په وخت کښې چې ښاغلی صباح الدین کشککی د اطلاعاتو او کلتور وزیر وُ اقدام وشو او د پلانګذاری او جوړولو لومړني پړاوونه یې ووهل شول خو عملي او اساسي کار د داوُد خان د جمهوریت په دوره کښې پرې پیل شو، د جاپان په تخنیکي او علمي مرستو دسټډیو ساختماني چارې د فوایدعامی وزارت د انجنیرانو په لاس تر سره شوې.

مهیمن وپوښتل: استاده لومړی د توراو سپین تلویزیون دستګاه جوړه شوه؟

ښوونکي په موسکا وویل: جالبه ده په افغانستان کښې به کارونه لږ کېدل خو چې کېدل به ښه به وو او پیل به یې پوخ وو نو تلویزیون هم په پاخه ډول پیل شو، سره له دې چې په نړۍ کښې تلویزیون په اوله کښې تور او سپین وُ او بیا رنګه شو خو په افغانستان کښې له هماغه پیل نه د تلویزیون رنګه او مجهزه دستګاه جوړه شوه او آنتن یې د کابل ښار د آسمایي غره په لوړه څوکه د پنځوس مترو په لوړوالي د ۱۳۵٦ کال په لیندۍ کښې ودرول شو.

استاد زیاته کړه: د افغانستان تلویزیون د ۱۳۵٦کال د کب په ۲۵ نیټه عملاً امتحاني خپروني پیل کړې اود کابل ښار په مهمو پارکونو او د کنې کونې په ځایونو کښې یې د تلویزیون پایې کښېښودې چې کابل ښاریان یې ډله ایزه ننداره وکړي، پټېيل شوې وه چې د تلویزیون خپرونې تر ډېره حده تعلیمي او روزنيز اړخ ولري، دولت پرېکړه کړې وه چې د تلویزیون رسمي خپرونې به د ۱۳۵۷ کال د چونګاښ په ۲٦ نیټه د جمهوریت د کلیزې په ورځ د جمهور رئیس په وینا پرانستلې کېږي.

احمد وپوښتل: استاده تلویزیون بیا په ټاکلې ورځ پرانستل شو که نه؟

استاد یو سوړ اسویلی وایست او ویې ویل: نه داسې ونه شول، په افغانستان کښې د ۱۳۵۷ش کال د غويي د اوومې نیټې خونړۍ کودتا هر څه ګډوډ کړل، د دولت ملي پروګرامونه وځنډېدل او د کمونستانو لاسپوڅي حکومت د شوروي ښکېلاک له غوښتنو سره سم د افغانستان د ټولو چارو په کمونستي کولو او روسي کولو لاس پورې کړ، له دې ډلې نه د تلویزیون دستګاه هم چې تیاره جوړه شوې او په ثمر راغلې وه، د روسي ښکېلاک غوښتنو ته وګومارل شوه او د کمونستي سیاست او کلتور په خدمت کښې شوه.

استاد زیاته کړه: د افغانستان تلویزیون د خلقیانو په حکومت کښې رسمي خپروني پیل کړې او بیا د شمشاد د دستګاه په جوړېدلو سره د روسي تلویزیون یوه پایګاه ترې جوړه شوه چې د شپې تر ناوختو پورې به یې د روسي تلویزیون پروګرامونه او فلمونه ریلې کول.

خالد وپوښتل: د افغانستان په غرني هېواد کښې د تلویزیون شبکه څنګه وغځوله شوه؟


ښوونکي وویل: د استونځمن کاروُ خو کمونستي حکومت د خپلو اهدافو له مخې او د روسانو په مرسته د هېوادِ په لویو ښارونو کښې د تلویزیون محلي دستګاوې جوړې کړې چې په کابل سربېره په بدخشان، بغلان، بلخ، جوزجان، هرات، فراه، هلمند، کندهار، خوست، ګردېز، غزني، ننګرهار او کونړ کښې د تلویزیون محلي دستګاوې فعالې وې او کمونستانو په خلاص مټ د خپل تبلیغ او اهدافو له پاره کار ترې اخیست.

حمید پوښنه وکړه: اوس په افغانستان کښې تلویزیوني خپرونې شته که نه؟

استاد بیا د افسوس سروخو ځاوه او ویې ویل: نه! اوس په افغانستان کښې تلویزیوني خپرونې نشته، د تلویزیون نشرات تحریم شوي او د تلویزیون پایې کله نا کله په اعدام هم محکومېږي.

استاد زیاته کړه: زما په عقیده تلویزیون د تعلیم او زده کړې یوه ډېره ښه وسیله ده نو له هغه نه باید د استفادې کولو په ډول کښې بدلون راشي نه دا چې د تلویزیون دروازې وتړلې شي.

## لسم درس




ښوونکي په ازمايښتي توګه زده کوونکو ته وويل: پوهېږئ نن به د څه په باب غږېږو؟

زده کوونکو په يوه خوله وويل: نه.

ښوونکي په موسکا وويل: نقل درکوم او هغه دا چې بشر تل داهيله لرلې چې هم ژر او هم په آسانۍ له يوه ځای نه بل ځای ته ورسېږي.

مهيمن وويل: غواړئ چې دموټر په باب وغږېږئ؟


خالد وويل: زه فکر کوم په الوتکه به غږېږئ.

يما وويل: زما په نظر بايسکل د ژر رسېدلو وسيله ده ښايي د بايسکل په باب به غږېږئ.

ښوونکي بيا موسکا وکړه اووې ويل: ستاسو ټولو ځواب سم دی ځکه دا ټولې د ژر رسېدلو وسيلې دي خو زه غواړم نن تاسو ته د موټر په جوړېدو او د ودرېدو وغږېږم او د مهيمن موضوع درته وځېرم!

زده کوونکو په يوه خوله وويل: سمه ده.

ښوونکي وويل: انسانانو له ډېر پخوا نه دا هيله درلوده چې له يوه ځای نه بل ځای ته په آسانۍ او چټکۍ سفر وکړي، لومړی يې د دې کار له پاره څاروي لکه خره، اسونه، اوښان، فيلان، سنداګان، غژګاوان او ځينې نور يو په بل پسې اهلي کړل او پرې سپاره شول. خولوی تحول او بدلون هغه وخت راغی چې بشر



هیواد ته له لومړنیو راغلو موټرو څخه یو موټر
تصویر د ۱۹۲۷ کال ،

"ارابه" یا "عراده" جوړه کړه، لومړی دا عرادې په څاروو پورې وتړل شوې او د یوه څاروي دوړو څواک یې څو چنده زیات کړ او بیا هڅه وشوه چې دا ارابې په بله وسیله وچورلولې شي.

حامد وویل: استاده! د موټر د جوړولو فکر په دې وخت کښې را پیدا شوُ.

ښوونکي ځواب ورکړ: هو! فکر یې همدا وخت را پیدا شو خو وجود یې بیا هم ډېر وخت وغوښت څوموټر جوړ شو.

استاد زیاته کړه: لومړنی سړی چې داسې یوه څلور ارابه یي وسیله یې جوړه کړه چې له څارویو پرته یې حرکت کاوه یو هالنډی و چې سیمون ستوین نومېده، ده پر خپله ارابه یو بادوان تړلی و او د هغې په مرسته یې وکولای شوه چې ٦٨ کیلو متره فاصله په دوو ساعتونو کښې ووهی، بیا په ١٦٤٩م (١٠٢٨ لمریز) کال کښې جان هوتزش یوه داسې ارابه جوړه کړه چې د ساعت غونډې د یوه لوی فنر په وسیله یې کار کاوه، ورپسې په ١٦٨٥م (١٠٢۴) لمریز کال یوه ساعت جوړوونکي "اسفان فارفلر" هم د فنر په وسیله یوه داسې بګی (ټانګه) جوړه کړه چې بې له اسه یې یون کاوه، په ١٧۴٠ (١١١٩ لمریز) کال یوه فرانسوی پوه داسې لېږدوونکې وسیله جوړه کړه چې د یوه لوی فنر په وسیله یې حرکت کاوه خو د فرانسې دولت یې هماغه د ازمایښت په لومړی ورځ په دې منطق چې ګړندیتوب یې زیات دی او ناوړه پېښې ترې پېښېږي، د ګرځېدو مخه ونیوله.

مهیمن چې د استاد خبرو ته غوږ غوږ وو یې ویل: تر فنري ارابو وروسته بیا څنګه ارابې را منځ ته شوې؟

ښوونکي په داسې حال کښې چې د ده توجه ستایله ورته وویل: افرین! اصلي خبره همدا ده چې د واقعي موټر بنسټ تر دې وروسته اېښودل کېږي او هغه د بخار په وسیله د چلېدونکو نقلیه وسیلو او ګاډیو را منځ ته کېدل دي چې ورو- ورو بشپړېږي.

د اتلسمې پېړۍ په دوهمه نیمایي کښې "سیمینګټن" داسې نقلیه وسیله جوړه کړه چې په بخار چلېدله چې دا وسیله د موټرونو بابا ګڼلای شو، ورپسې ترویسیک بخاري بګۍ جوړه کړه او بیا په نولسمه پېړۍ کښې په انګلستان کښې دا ډول نقلیه وسیلې ډېرې جوړې شوې خو څرنګه چې د ډېرو سکاره پکښې

سوځېدل او ډېر لوګی یې کاوه او هم یې له ځینې کسانو سره ټکر وکړ نو ځکه یې پرمختګ ونه کړ!

خالد په تلوسه وویل: استاده نوموټر بیا څنګه پرمختګ وکړ؟

استاد موسکی شوویې ویل: هو په فرانسه کښې بخاري نقلیه وسیلو وده وکړه او د ۱۸٦۵م (۱۲۴۴لمریز) کال په ننداړ تون کښې خلک په مینه پرې راټول شول او همهغه وو چې د ۱۹ پېړۍ په دوهمه نیمایي کښې په نفتوتلونکي موټرونه هم جوړ شول او ورو- ورو یې وده وکړه او په بېلا بېلو هېوادونو کښې د موټر جوړولو کار دوام وکړ.

مهیمن وویل: د موټر په مخه کښې څو څه موانع او خنډونه را منځ ته نه شول؟

ښوونکی بیا موسکی شو او ویې ویل: ولې نه! د شلمې پېړۍ په پیل کښې یو شمېر کسانو له موټر سره کلک مخالفت وکړ، دوی به ویل چې موټر تر افیمو او شرابو هم خطرناک دی. دوی به دا هم ویل په داسې یوه وسیله کښې تلل چې مغز نه لري، لېونتوب دی.


خوزیات مخالفت هغو په لکونو کسګبرو کاوه چې د اسونو زینونو، نالونو او نورو سامانونو په جوړولو بوخت وو، کاروا نسرایونه یې درلودل، اسونه یې خرڅول او د اسونو او نورو څاروو په وسیله یې بارونه او مالونه وړل را وړل.

یما وپوښتل: افغانستان ته لومړنی موټر څه وخت راغی؟

ښوونکي په مینه وویل: زموږ اصلي موضوع همدا ده، موټر زموږ هېواد ته رښتیا هم د تمدن د یوه سوغات په توګه راغلی او هغه دا چې کله د برتانوي هندد باندنیو چارو سکرتر مستر دین د ۱۹۰۴م کال د دسمبر په لسمه نیټه کابل ته راغی نو د نورو سوغاتو نو تر څنګ یې دوخت پاچا امیر حبیب الله خان ته یو ګرندی موټر هم راوستی وُ چې اووه سوه پونډ سترلنګ بیه یې درلوده.

خالد وویل: تر دې وروسته نور موټر هم راوغوښتل شول که نه؟

ښوونکی موسکی شو ویې ویل: هو! له دې کبله چې امیر حبیب الله خان یو استراحت طلب پاچاوُ او موټر له یوې خوا د سیر او سیاحت له پاره ښه وسیله وه او له بلې خوا د امیر کورنۍ ښځې، او اولادونه زیات وو نو د موټرونو اخیستلو



**د لومړنيو نقلياتو موټر**

ته يې زياته توجه وکړه چې ورځ په ورځ د سرکاري موټرو شمېر زياتېده او د ۱۹۱۱م کال په دسمبر کښې د موټرو لړۍ دومره زياته شوه چې د سراج الاخبار د همدې مياشتې د يوه خبر له مخې دوخت پاچا د شپږو موټرو په کاروان کښې جلال آباد ته سفر وکړ.

مهيمن وويل: ماته مې بابا ويلي چې د امير حبيب الله خان په وخت کښې د موټرو شرکت هم جوړ شوی وُ په دې برخه کښې که زيات معلومات راکړئ!

ښوونکي وويل: سم يې درته ويلي. په ۱۹۱۳کال د حکومت له خوا د موټر چلولو يو شرکت جوړ شو چې يو شمېر لارۍ موټر پکښې وو او د مالونو دوړلو راوړلو له پاره استفاده ترې کېدله چې معمولاً تجارتي مالونه پکښې وړل کېدل.


استاد زياته کړه: په همدې ترتيب د دې پاچا په وخت کښې په ګرنديو او لاريو موټر وسر بېره بسونه او سرويسونه هم هېواد ته راوستل شول چې عکسونه يې سراج الاخبار خپاره کړي دي.

يما وويل: افغانستان ته لومړني راغلي موټر په څه شي چلېدل؟

ښوونکي وويل: لومړني موټر همهغه بخاري موټر وو چې د ډيزلو پر ځای لرګي پکښې سوځول کېدل چې هغو به بيا بخار توليداوه او د موټر ماشين به يې څرخاوه، دا ډول موټر د امان الله خان په وخت کښې هم رواج وو.

ښوونکي زياته کړه: داوخت د سړکونو د پخولو او کلکولو له پاره له ډېرينو رولونو څخه کار اخيستل کېده چې د فيل په وسيله به کش کېدل او بيا وروسته داسې رولونه راغلل چې په بخار يې کار کاوه او سړکونه يې پخول. او بيا نوموټر را زيات شول او اوس د نړۍ ډېر لوکس اونوي ماډل موټرونه په افغانستان کښې شته.

## یوولسم درس




# رېل

ښوونکي وويل: نن په يوه لرغوني تقليه وسيله غږېږو
تاسې يې نوم اخيستلی شئ؟
حامد وويل: بېړۍ به ښيئ؟
استاد وويل: نه په بېړۍ خبرې نه کوو.
مهيمن وويل: ښايي چې په رېل به راته غږېږئ.

استاد وويل: افرين سمه ده او بيا يې وويل: له رېل نه لومړی ځل د تيـرې د سکرو په کانونو کښې په ۱۵۵٦ (۹۳۵ لمريز) کال کار واخيستل شـو، ورو- ورو يـې وده وکړه او دوړلو راوړلو د وسيلې په توګه د بخار د انجن پـه وسيله رېل لـېرې- لېرې مزلونه وکړل او داوسپنې پټلۍ ورته وغځېدلې.

استاد زياته کړه: د نولسمې پېړۍ لـه پيـل نـه درېل د انکشـاف او پراختيـا لړۍ هم پيل شوه او د ۱۸۲۵ کال د سپټامبر په ۲۷ نيټه يو لوی بخاري انجـن چـې ۳۴ واګونونه پرې تړلي وو په يوه اوږده سفر روان شو او مـنزل تـه پـه رسـېدو شـپږ سوه تنه سواره پکښې وو او بيا يې ژر- ژر وده وکړه او په نړۍ کښې د حمل و نقـل يوه مهمه وسيله شو!



په افغانستان کښې لومړنی رېل چې له دارالامان نه له سپرلی ډک ښارته را
روان دی
تصویر ۱۹۲۶

يما وېپوښتل: استاده افغانستان ته رېل راغلی دی؟

استاد و موسل اووې ويل: افغانستان د دوو ښکېلاکي ځواکونــو انګلستان او روسيې تر منځ پروت و او غوښتــل يــې چــې د دواړو لــه مستقيم نغـوذ نــه ځان وژغوري، د امير حبيب الله خان په وخت کښې چې له انګرېزانو سره دوستي پخــه وه خو بيا هم حکومت وېرېده چې که په خپل هېواد کښې درېل کرښه تېره کــړي او دا کرښه د برتانوي هند درېل له کرښو سره نښتــې وي نــو د دې وېره ده چــې انګرېزان له دې کرښې نه د خپلو ښکېلاکي اهدافو له پاره لويه استفاده وکړي نــو له همدې امله وو چې د امير حبيب الله خان په وخت کښې د رېل موضوع مطرح شوه خو عملی نه شوه.

خالد وېپوښتل: بيا وروسته دا کاروشو؟

استاد وويل: هو! وشو خو په بنيــادي ډول نــه، بلکــه پــه تفننــی او ذوقــي ډول، هغه دا چې په ۱۳۰۵لمريز کال د کابل په ښار کښې د شاه دوشمشـــېره عليــه الرحمه له زيارت نه تر دارالامان پورې د رېل يوه محدوده پټلی جوړه شوه چې د يو بخاري انجن په وسيله به يې څو واګونونه له ځانه سره کش کـول او هـره ورځ به يې په دې ټاکلي مســير خلـک او مالونــه وړل او راوړل، د دې رېل کـرښه ۸-۹ کيلو متره اوږده وه، دا رېل کرښه تر سقوي دورې پورې وه بيا بنــده شــوه او ورو- ورو يې پټلی را ټوله او ځينې پاتې شوني يــې د دارالامــان دمــانی پــه شــمالی اړخ کښې را غونډ کړای شول چې اوس يې هم ځينې نخښې شته.

استاد زياته کړه: کله چې اعليحضرت امان لله خان په ۱۳۰۷ لمريز کـــال د اروپا په سفر تللی و له فرانسې او جرمنــي ســره يــې پــه افغانســتان کــښې د رېل د کرښې غځولو په باب ترونونه کړي وو، فرانسې ژمنه کړې وه چې له کشک نه به تــر کندهار او له کندهاره تر کابل پورې درېل پټلی جــوړوي او المــان ژمنــه کــړې وه چې له کابل نه به له تورخم سره د رېل پټلی نښلوي چې متخصصين يې د ســروې له پاره راغلل خو بيا ولاړل او د هېواد سياسي حــالات خــراب شــول او همــدا وو چې تر ننه درېل کرښې په هېواد کښې ونه غځول شوې او دا هيله د تــل لــه پــاره نهيله شوه.

دوولسم درس

# الوتکه

د ساینس ښوونکي نن شاګردانو ته د خوش طبعۍ په توګه وزرو ټپول او بیا یې ووېل: خوږو شاګردانو نن به د تمدن پر کوم سوغات غږېږو.

زده کوونکو چې ټولو د استاد وزرټپول لیدلی وو په خندا ووېل: استاده نن به په الوتکه غږېږو.

استاد ووېل: افرین هوښیارو زامنو! د الوتلو فکر له انسانانو سره د پیدایښت له لومړۍ ورځې نه پیدا و، ځکه دوی چې په خپله شا او خوا کښې راز راز مرغان ولیدل چې الوزي نو د دوی هم ډېر زړه کېده چې د مرغانو په شان الوتلی وای خو د وجود فزیکي جوړښت یې داسې و چې د الوتلو توان یې نه درلود. نو د خپل هوس د تسکین له پاره یې ځان ته ورته الوتونکي په خپل ذهن کښې جوړ کړل د ښاپېریانو نوم یې ورته کښېښود او په خپلو کیسو کښې یې الوزول.

استاد زیاته کړه: ځینې کسانو به د وړیو سیمرغانو پر شا بستره وتړله او د بره به یې غوښې ورته ښکاره کړې هغه به والووت او ده به سپرلي پرې وخوړله. ځینې کسانو وزر هم په ځانونو پورې وتړل او محدودې الوتنې یې وکړای شوې او هم بالونونه جوړ راو هواته والوزول شول.

حامد ووېل: استاد اصلي الوتکه څه وخت جوړه شوه!

استاد په ځواب کښې وويل: د الوتکې اصلي هڅه درايت ورونو وه چې د ۱۹۳۰م کال په دسمبر کښې يې وکړه خو بيا هم بايد ووايو چې دوی تـه د الوتلـو لاره د پخوانيو عالمانو تجربو برابره کړې وه، د دوی له خوا جوړه شوې الوتکـه د ۱۹۰۳کال د دسمبر په اوولسمه نيټه په برياليتوب هوا ته والوتـه او بېرتـه را کـوزه شوه او اوس هم د امريکا په هوايي نندارتون کښې ساتل کېږي.

استاد زياته کړه: د الوتکې له اختراع سره- سره بيا هـم د لومـړۍ نړيوالـې جګړې تر پيلېدو پورې له الوتکې نه د خلکو او باردوړلو له پاره هـېڅ راز اسـتفاده ونه شوه او چې استفاده ترې وشوه هم يوې الوتکې له څلورونه تر لسو تنـو پـورې سورلي وړلای شوه.

مهيمن په تلوسه پوښتنه وکړه: استاده زمـوږ هـېواد تـه الوتکـه څه وخـت راغله؟

ښوونکي بيا هم وموسـل او ويـې ويـل: زمـوږ عجيـب قسـمت دی، زمـوږ هېواد ته لومړنۍ الوتکه چـې راغلـه يـوه انـګرېزي الوتکـه وه چـې د اسـتقلال د جګړې په ترڅ کښې تر کابل پورې راورسېده، پـه يـوه عسـکری کمنـد يـې بمونـه واچول څواسونه يې ووژل او بېرته ستنه شوه، دوخت پاچـا اعليحضـرت امـان الله خان او ځينې نورو کسانو توپک پسې را واخيسـتل ډزې يـې پـرې وکـړې خـو پـه تېښته ولاړه.

استاد زياته کړه: ليکن يوه بله الوتکه چې د جګړې په جنوبـي محـاذ يـې بمباري کوله غازيانو په توپک وويشته چې د امان افغان د خبر له مخې د جنګ لـه صحنې نه لږ لرې راپرېوته او ټوټه- ټوټه شوه. يوه بله الوتکـه لـه انګرېزانـو نـه پـه غنيمت ونيوله شوه هغه دا چې يوه انګرېزي الوتکه په پکتيـا کـښې پـه يـوه هـوار ځای کښې کوزه شوې وه او پيلوټ يې کشفيات کول چې يو شـپون پـرې را پـېښ شو او پيلوټ يې ونيو، حکومت چې پرې خبر شو الوتکه يې کابل تـه راوسـته او د غنيمت په توګه يې وګرځوله خو پيلوټ يې دښه نيت له مخې خوشې کـړ او بېرتـه يې انګليسانو ته وسپاره.

اسد الله وويل: افغانستان د الوتکو رانيولو ته څه وخت اقدام وکړ؟

ښوونکي ځواب ورکړ: الوتکو په لومړۍ نړیواله جګړه کښې ډېر اهمیت پیدا کړی و او هم یې د هېواد د استقلال په جګړه کښې ورانوونکې برخه اخیستې وه نو ځکه د افغانستان حکومت په هماغه د استقلال په لومړیو وختونو کښې له جرمني نه دوې الوتکې رانیولې.

مهیمن وپوښتل: د الوتکو له پاره ډګر چېرې جوړ شو؟

ښوونکي وویل: لومړۍ الوتکې د خواجه رواش په دښته کښې الوتلې خو بیا وروسته د ا وسنۍ وزیر اکبر خان مینې په هواره دښته کښې د الوتکو له پاره لومړی ډګر جوړ شو او د خواجه رواش د ډګر د اساسي جوړېدو تر وخته همدا ځای هوایي ډګرو.

خالد وویل: دې الوتکو زموږ اړتیاوې پوره کړې که نه؟

ښوونکي ځواب ورکړ: زموږ لوی مشکل د پیلوټانو و، د افغانستان حکومت دا وخت یو الماني پیلوټ او میخانیک استخدام کړل خو دا پیلوټ ډېر نالایق و، دوې الوتکې یې په هوایي ډګر کښې ماتې کړې او یوه بله الوتکه یې د منګلو په بغاوت کښې په ۱۳۰۳ کال والوزوله له ګردیز سره نژدې یې په داسې ځای کښې ښکته کړه چې د باغیانو په لاس کښې و، الوتکه له کوزېدو سره له کاره ولوېده او پیلوټ په بدله جامه کښې یوه افغان منصبدار په ډېر تکلیف د محاصرې له کړۍ نه راویوست او کابل ته یې راورساوه.

شېرګل وویل: تر دې وروسته بیا څه اقدام وشو؟

ښوونکي وویل: تر دې وروسته حکومت له شوروي نه شپږ الوتکې رانیولې چې یوه یې مسافر وړونکې یو نیکرس الماني الوتکه وه چې دوه تنه عمله او څلور تنه مسافر یې وړلای شول او پنځه نورې یو انجنه حربي الوتکې وې چې کشف به یې کاوه. جالبه دا وه چې دا لومړی ځل و چې الوتکې د هندوکش په لوړغره راواوښتې، که څه هم دهمالیا غر تر هندوکش لوړ دی خو په همالیا تر دې وخته الوتکې نه وې اوښتې نو ځکه دا تر ټولو لوړه الوتنه وه.

یما وویل: افغانستان په همدې الوتکو بسنه وکړه که نورې یې هم واخیستې؟

ښوونکي وويل: نه! د ۱۳۰۴ کال په چونګاښ کښې حکومت شپږ نورې الوتکې هم له شوروي څخه را نيولې او بيا يې په ۱۳۰۷م کال کښې ٦۰ نورې الوتکې هم له شوروي نه واخيستلې، چې په دې الوتکو کښې دوه تنه افغاني پيلوټان هم د لارښوونې له پاره ورسره وو خو له بده مرغه يوه الوتکه د شوروي په خاوره کښې راولوېده چې له روسي پيلوټ سره يو ځای لومړنی افغاني پيلوټ محمدمحسن خان هم مړ شو.

ښوونکي زياته کړه: همدا راز اعليحضرت امان الله خان ته د ۱۳۰۷م کال په اوږده سفر کښې چې د نړۍ ګنو هېوادونو ته يې کړی و يوه درې انجنه يونکرس الوتکه د المان حکومت، يوه فرانسوي الوتکه د فرانسې حکومت او يوه سپورتي الوتکه د پولينډ حکومت وربخښلې وه. دوې مسافر وړونکې يو نکرس يو انجنه الوتکې يې له روسيې نه نورې اخيستې وې چې په ۱۳۰۷ کښې د ټولو الوتکو شمېره اويا و ته رسېدله.

محمد داود وپوښتل: استاده! د پيلوټانو له پاره د افغانستان حکومت څه اقدام وکړ؟

استاد ځواب ورکړ: د افغانستان دولت غوښتل چې هم يو شمېر ځوانان د پيلوټۍ د زده کړې له پاره بهرنيو هېوادونو ته ولېږي او هم په هېواد کښې دننه يو هوايي ښوونځی جوړ کړي چې له روسانو سره په دې اړه تړون هم شوی وخو روسانو د نا معلوم علت له مخې دا ښوونځی جوړ نه کړ اما بهر ته جو په - جوپه ځوانان ايټاليې ته واستول شول چې محمد احسان د پيلوټۍ، محمد هاشم خان د کشافۍ او غلام دستګير خان د ميخانيکۍ په شقونو کښې زده کړه وکړه او د ۱۳۰۳ لمريز کال په پای کښې بېرته هېواد ته را ستانه شول که څه هم دوی په خپله عملي کارونه کړ خو د هوايي قوې په تشکيل، د خارجيانو په استخدام او د افغانانو په روزنه کښې يې ډېر خدمت وکړ.

استاد زياته کړه: يو بل ځوان د هوابازۍ له پاره په المان کښې روزل شوی و خو کار ترې وانه خيستل شو. البته په ۱۳۰۳ کال کښې حکومت يولوی اقدام وکړ او له شوروي سره يې د يوه تړون له مخې د حربي ښوونځي شل تنه ځوانان د کندکمشر عطاء الحق خان تر سرپرستۍ لاندې د دې کال په کب کښې

ولېږل چې یو شمېر یې د پیلوټانو او نور یې د میخانیکانو په توګه وروزل شول او بیا وروسته نور خوانان هم د هوايي زده کړو له پاره ولېږل شول.

حامد وپوښتل: د مسافر وړلو په برخه کښې له الوتکې نه څه وخت کار واخیستل شو؟

ښوونکي وویل: په همهغه اماني دوره کښې له شوروي سره د مسافر وړونکو الوتکو د تګ را تګ تړون وشو او بیا وروسته ورو-ورو د افغانستان هوايي وسایطو پراختیا وکړه دنظامي الوتکو تر څنګ لویې - لویې مسافر وړونکې الوتکې واخیستلې شوې او د اریانا افغان هوايي شرکت جوړ شو، همدا راز د سیاحت وړې- وړې الوتکې هم واخیستلې شوې چې د باختر افغان الوتنې په نامه یادې شوې.

استاد زیاته کړه: اوس که تاسو په افغانستان کښې د الوتکې په باب څه معلومات لرئ ویې وایئ؟

مهیمن لاس پورته کړ او تر اجازې وروسته یې وویل: استاده ماته مې بابا کیسه کوله چې یوه ورځ اعلیحضرت امان الله خان د موټر په سپرلۍ په چهل ستون کښې روان و چې یو ماشوم یې ولید چې د کاغذالوتکه یې جوړه کړې وه او الوزوله یې، ده موټرورته ودراوه، ماشوم یې راوغوښت، یوه اماني طلایې د بخښښ په توګه ورکړه او ورته و یې ویل: افرین چې ته له دې ماشومتوبه د هېواد د پرمختګ او ترقۍ فکر لرې!

استاد وویل: ډېره ښه کیسه وه تر بله درسه خدای پامان!

دیارلسم درس

# چاپ


استاد نن د کتاب په اهمیت خبرې پیل کړې مهیمن چې د خپل ټولګی ډېر ذکي هلک وو ورته وویل: استاده زه فکر کــوم چــې نــن د چــاپ پــه اخــتراع خبرې راته کوئ!

استاد د خوښۍ په خرګندولو ورته وویل: افرین پوه شوې، د چاپ اختراع تر ټولو اختراعاتو مهمه ده او همدا د چاپ اختراع ده چې علـم یـې د واکمنـو او شتمنو له انحصار او واک څخه راویوست او ټولو خلکو ته یې ورساوه.

ده د چاپ په پیدایښت وویل: د چاپ په اختراع کــښې هــم ګڼ دماغونــه ستړي شوي څو چې دې پوړۍ تــه را رســېدلی دی. دچــاپ ډېره لرغونــې وسیله مهرونه او ټاپې وې چې نقشونه به پکښې کیندل شوي وو او رختونه به پرې ښکلــې کېدل، چینیانو تر ۸٦۸م (۲۴۷ لمریز) کال وروسته خپل کتابونه هم د خپلې ژبې پــه مهر شویو جملو ټاپه کول، پــه ۱۰۴۵م (۴۲۴لمریـز) کــال کــښې "بــی شــنګ" نومــې چیني د دې ډول چاپ له پاره نــوې لاره جــوړه کــړه، د چینــي لیک بــېلا بېلــې نخښې یې په لرګیو کښې کیندلې وې، څنګ پر څنګ به یــې کــښېښودې جملــه بــه یې ترې جوړه کړه او بیا به یې پر کاغذ ټاپه کړې، په دې ترتیب یې له یوه متن نــه په اسانۍ ډېر نقلونه ټاپه کولای یا چاپولای شول.

خالد په تلوسه وپوښتل: واقعي چاپ څه وخت را منځ ته شو؟

استاد ځواب ورکړ! همدا هڅې روانې وې ډېروکسانو د موادو چاپولــو پــه لارو چارو کاروکړ څو الماني ګوټنبرک پردې بریالی شو چــې د لــرګې پــر ځای لــه فلزنه چپــه حروف جوړ کړي او پر کاغذ باندې په چاپولو سره هغه راسته ولوستل



د شمس النهار د جریدې یو تصویر چې هیواد ته د مطبعې تر راتلو وروسته خپور شوی دی

شي، ده لومړی ځل په ۱۴۴۴م (۸۲۳لمریز) کال د انجیل سپېڅلې کتاب په خپلو جوړو کړو حروفو چاپ کړ او د دې کتاب په چاپولو سره د علم په دنیا کښې یو ژور بدلون راغی او بیا د چاپ له پاره نوې لارې جوړې شوې او دا دی اوس خبره کمپیوټري چاپ ته را رسېدلې ده.

یما وویل: زموږ هېواد ته چاپ څه وخت راغی؟

ښوونکي وویل: د افغانستان لوی مفکر سید جمال الدین افغاني غوښتل داسې اسلامي نظام په هېواد او د سیمې په هېوادونو کښې پلی کړي چې د تمدن له نویو وسایلو نه په ښه توګه استفاده وکړي خو له هېواد نه وتو ته تر مجبورېدو وروسته یې خپل د ریفورم او اصلاحاتو پروګرام دوخت پاچا امیر شېر علیخان ته وسپاره او نوموړي پاچا د دې پروګرام په عملي کولو سره د لومړي ځل له پاره ډېره ښه مطبعه هم په ۱۲۸۷هـ.ق (۱۸۷۰م) کال افغانستان ته راوړله، دا مطبعه مصطفوي مطبعه نومېدله چې د پښتو بولیو او یو شمېر دیني او طبي کتابونه یې خپاره کړل.

استاد زیاته کړه: همدا وخت د کابل په بالاحصار کښې د شمس النهار مطبعه هم جوړه شوه چې په دې نامه یې د افغانستان لومړنی اخبار چاپاوه او هم همدا وخت د پستې ټکټونه په هېواد کښې خپاره شول او هم په دې وخت کښې د کلیز (جنتری) خپرېدل په هېواد کښې شروع شول.

خالد پوښتنه وکړه: په دې پسې مطبعې زیاتې شوې او مطبوعاتي فعالیتونه ډېر شول که څنګه؟

ښوونکي دافسوس په توګه د سرله خوځولو سره ځواب ورکړ: نه له بده مرغه پر افغانستان باندې په ۱۸۷۹م کال انګرېزانو دوهم ځل تېري وکړ او له دې سره هر څه متوقف شول چې مطبعه او اخبار هم له منځه ولاړل.

په ۱۸۸۰م کال د انګرېزانو ترماتې او د امیر عبدالرحمان خان تر پاچا کېدلو وروسته ډېره ښه مطبعه تر پخوا نه په ښه کمیت او کیفیت د کابل په حربي فابریکه کښې فعاله شوه چې له ۱۳۰۳هـ.ق (۱۸۸۵م) کال وروسته یې په ډېر ښه صحافت د کتابونو او دولتي اسنادو خپرول پیل کړل.

.استاد زیاته کړه: د امیر حبیب الله خان په وخت کښې مطبعې نوره پراختیا هم وموندده. په ۱۹۰٦م کال سراج الاخبار افغانستان په ډېرين چاپ خپور شو او بیا په ۱۹۱۱م کال سراج الاخبار افغانیه تاسیس او په ډېرینه مطبعه کښې چاپ شو، په ۱۲۹۱هـ.ش کال په کابل کښې د عنایت مطبعه جوړه شوه چې اته پایې يې د ډېرين چاپ ماشینونه او یویې د حروفي چاپ ماشین درلود او هم یې د زینکو ګرافی او عکس چاپولو دستګاه درلوده. او بیا په همدې کال د کابل سرکاری مطبعې ته هم د حروفی چاپ ماشین راوړل شو او د سراج الاخبار ددوهم کال لومړی ګڼه ۱۲۹۱هـ.ش کال د تلی په ۴ نیټه په حروفي چاپ خپره شوه او همدا وخت ګڼ کتابونه او دولتی اسناد هم په ډېرینو او حروفی ماشینونو کښې چاپ شول.

مهیمن وپوښتل: استاده د چاپ ماشینونه یوازې په مرکز کښې وو که ولایاتو ته هم یوړل شول؟

ښوونکي ځواب ورکړ: د افغانستان د خپلواکۍ تر ترلاسه کېدلو وروسته د هېواد پر مرکز کابل سربېره په ګڼو ولایاتو کښې هم اخبارونه او خپرونې وو تل چې دې ټولو ته مطبعې جوړې شوې، لکه په کابل کښې: امان افغان، ابلاغ، افغان، حقیقت، ارشاد النسوان، معرف معارف، ائینه عرفان، مجموعه عسکریه، مجموعه صحیه، ثروت، انیس، نسیم سحر، نوروز، پښتون ږغ، په جلال اباد کښې اتحاد مشرقی، په کندهار کښې طلوع افغان، په پکتیا کښې غازي، په هرات کښې اتفاق اسلام، په مزار شریف کښې اتحاد اسلام، په خان اباد کښې اصلاح او په چاریکار کښې ستاره افغان نشر شول.

استاد زیاته کړه: او بیا وروسته مطبعې نوره پراختیا هم وکړه، په نادري دوره کښې د کابل عمومي مطبعه جوړه شوه چې ښه مجهزه مطبعه وه او تر ځنګ يې نورې لويې او وړې مرکزي او ولايتي، رسمي او شخصي مطبعې جوړې شوې چې په زرهاوو کتابونه، مجلې، جريدې او ورځپاڼې پکښې خپرې شوې دي.

خالد پوښتنه وکړه: استاده د مطبعې په باب کومه په زړه پورې واقعه که شوې وي راته ووایاست!

استاد موسکی شو ویې ویل: د چاپ او مطبعې په باب یو په زړه پورې مطلب دادی چي په ۱۳۰۱هـ.ش (۱۹۲۲م) کال کښې د هرات د اتفاق اسلام د مطبعې کارونه زیات شول او پخواني ماشین نشوای تر سره کولای نو د ډېرین چاپ یو نوی ماشین یې جوړ کړ، افغانی استادانو استاد علی اصغر، استاد محمد عظیم، استاد غلام علی، استاد عبدالغیاث، استاد محمد هاشم، استاد جمعه خان او حاجي محمد حسن سراج (د چرمګر په معنی) د استاد خلیفه عبدالله خان کابلی تر نګرانۍ لاندې د هرات چاپخانې د سرپرست سید اشرف خان په هاند او هڅه د ډېرین چاپ داسې ماشین جوړ کړ چې تر دې ډول خارجي ماشینونو ښه او دقیق و او د اتفاق اسلام جریدې کومه ګڼه یې چې په دې ماشین کښې چاپ کړې وه ډېره ښکلې او روښانه وه او په دې توګه په افغانستان کښې د افغانستان کارګرانو په خپل لاس جوړ کړي ماشین د چاپ چارې سرته ورسولې.

# نوري عصري وسيلې

استاد وويل: ګرانو شاګردانو د نويو ساينسي ايجاداتو په برخــه کښې نــن زموږ وروستی درس دی ځکه نور نو تعليمي کال سرته رسېږي خو د بحث لـه پـاره مواد ډېر زيات پاتې دي، په نړۍ کـښې ګڼ ساينسـي ايجادونـه شـوي اولـه هغـې جملې نه يې دا ايجادونه افغانستان ته هم راغلي چې ټول د بحث وړ دي.

استاد زياته کړه: د چاپ تر څنګ ځينې نور ماشينونه لکه د ټايـپ ماشـين، ټيلی ټايپ دستګاه او اوس کمپوټر هم په دې برخه کښې افغانســتان تـه راغلـي او خصوصاً آسيا سافټ بريالی شوی چې هغه ټولې اسانۍ چـې پـه کمپيـوټر کـښې د انګرېزي ژبې له پاره موجودې وې، د پښتو او دري له پاره هم په کار واچوي.

مهيمن وويل: استاده موټر سيکل به هم افغانستان ته دوخته راغلی وي؟

ښوونکي وويل: موټر سيکل له موټر سره يو ځای هېواد ته راغلی، د خلکـو له پاره ډېرد تعجب وړ وُ چـې ډېرو خلکـو ورتـه "پـات پټـی مـوټر" وايـه، همـدا راز بايسکل هم يو عجيب ايجاد وُ لومړی ځل چې جوړشــو خلکـو "مسـخره اخـتراع" نوم پرې کېښود او لومړنی مخترع يې مجبور شو چې د خلکـو د خبرولـه لاسـه لـه خپلې اختراع نه لاس واخلي او بيا ډېر وروسته نورو پوهانو کار پرې وکړ.

استاد زياته کړه: پر دې سربېره ګرامافون، ټيپ ريکارډر ويډيو فلـم او نـور ډېر د تمدن سوغاتونه شته چې زموږ هېواد ته وخـت پـه وخـت راغلـي او خلکـو استفاده ترې کړې ده.

حامد وويل: په افغانستان کښې په خپله داسې وسايل چـې ډېر جـالب وي کله نه دي ايجاد شوي؟

استاد وويل: ولې نه، يو نيم زرکالـه وړانـدې پـه هـرات او سيسـتان کـښې داسې ژرندې موجودې وې چې په باد چلېدې، څرخونه بـه يـې بـاد څرڅول او لاندې به ميلې د ژرنـدې پلونـه لـه ځانـه سره چورلـول او دا بـالکل د عصري ماشينونو د مور په توګه ګڼلای شو او کلـه چـې عربـان د اسـلام د سـپېڅلي ديـن دخورولو له پاره افغانستان ته راغلل د دې ژرندو په بـاب لـه ډېرې حيرانـۍ سره مخامخ شول او مورخينو يې دا د باد ژرندې پـه ډېره پاملرنـه خپلـو خلکـو تـه ور معرفي کړې او د تعجب وړاختراع يې بللې ده.

استاد زياته کړه: همدا راز مقنع خراساني څورلس سوه کاله وړانـدې يـوه مصنوعي سپوږمۍ جوړه کړې وه چې هره شپه به د "نخشـب" لـه ځانـه راختلـه د قرشي ښار به يې رڼا وه او بيرته به په همدې ځا کښې لوېدله. دا سپوږمۍ د داسـې جبوه يې ښيښو په وسيله جوړه شوې وه چـې د ورځـې بـه يـې د لمـر رڼـا ذخيره کوله او د شپې به يې د دې ښيښو د دوراني حرکت په وسيله ښار رڼا کاوه او بېرتـه به نوموړې ځا ته دا رڼا راستنېدله.

حيات الله وويل: استاده ! اوس د تمدن له ځينې سوغاتونو، لکـه کـامرې، تلويزيون، سينما او نورو سره مخالفت کېږي تاسو په دې باب څه واياست؟

استاد ځواب ورکړ: د تمدن د ځينې سـوغاتونو پـه بـاب پـه هـېواد کـښې خنډونه او مخنيوي شته خو زما عقيده دا ده چې د تمدن مخنيوی نـا ممکـن دی نو موږ بايد له دې سوغاتونو نه د خپلـو دينـي او ملـی شـرايطو پـه رڼا کـښې ګټه واخلو او په داسې توګه يې په کارواچوو چې زموږ خلکو ته سالمه ګټه ورسوي.

مهيمن د زده کوونکو په نمايندګۍ وويل: موږ هم عقيده لرو چې د غربـي تمدن په سيلاب کښې بايد لاهو نه شو او موږ د يوه مسلمان او سـرلوړي ملـت پـه

توګه خپل اسلامي او ملي تشخص وساتو او د تمدن له ټولو سوغاتونو او وسایلو نـه د خپلو دیني او ملي ګټو په رڼا کښې استفاده وکړو!

ښوونکـي وویـل: زه ستاسـو د دې سـالم‌درک او پیـاوړي دینـي او ملـــي احساس ستاینه کوم او په لوی خدای مو سپارم!

زده کوونکو په یوه خوله وویل: موږ دې هم په لوی خدای سپارو!

- تر بله کاله خدای پامان!
- خدای پامان!

# اخځلیک


۱) حبل المتین (د کلکتې فارسي جریده) چلوونکی: جلال الدین حسیني، لومړی کال دریمه ګڼه، ۱۸۹۵ع کال سپتامبر.

۲) سراج الاخبار افغانیه (د کابل جریده) چلوونکی محمود طرزی، لومړی کال، ۱۱ ګڼه، ۱۲۹۰کال د کب ۱۵ نیټه (۱۹۱۱م) کال.

۳) سراج الاخبار افغانیه، دریم کال، اوومه ګڼه، ۱۲۹۲ د لیندي ۲۲ (۱۹۱۳م).

۴) امان افغان، د ۱۹۱۹ کال فوق العاده ګڼې.

۵) امان افغان، نهم کال، ۳۱ ګڼه، ۱۳۰۷ زمري ۲۴ (۱۹۲۸م).

٦) امیر عبدالرحمن خان: تاج التواریخ، د لاهور چاپ.

۷) مقالات محمود طرزی، ټولوونکی ډاکتر روان فرهادي، کابل ۱۳۵۵.

۸) پښتو آریانا دایرة المعارف، پنځم ټوک، ۱۳۵۴، کابل.

۹) پښتو آریانا دایرة المعارف، شپږم ټوک، ۱۳۵۵، کابل.

۱۰) پښتو آریانا دایرة المعارف، اووم ټوک، ۱۳۵۵، کابل.

۱۱) حبیبی، پوهاند عبدالحی: د افغانستان تاریخی پېښلیک، ۱۳۵۳کابل.

۱۲) فردای افغانستان اسلامي، پنځم سیمینار، دله ایزرسندوی د افغانستان په راتلونکې ټولنه کښې، د افغانستان د جهاد ثقافتي شوری، ۱۳۷۰، اسلام آباد.

۱۳) آهنګ، محمد کاظم او رفیع، حبیب الله: په افغانستان کښې د ژورنالیزم تاریخچه، د افغانستان دتاریخ ټولنه، ۱۳۵٦، کابل.

۱۴) فخرداعی، محمود (ترجمه) فردا چه خواهد شد؟ تبریز، ایران، کتابفروشی سروش.
۱۵) محسن جاویدان: تاریخ اختراعات، ۱۳٦۷، تهران ایران.
۱٦) ایگول لارس: تاریخ اختراعات، ژباړن کبیر احمد آهنگ، دافغان کتاب نشراتي موسسه، ۱۳۵۵ کابل.
۱۷) طرزی، محمد صدیق: استعمال آلات صنعتي و تخنیکي و مدني در افغانستان، ۱۳۵۳، کابل (قلمی نسخه چې مؤلف لیکونکي ته په خاصه مینه او لور ښنه بخښلی وه، اروا یې ښاده غواړم).

PROPERTY OF ACKU

PROPERTY OF ARIC Established 1989

## د لیکوال لنډ ژوند لیک:

نوم : حبیب الله رفیع دار واښاد ملا نصرالله نقشبند زوی

زیږېدنه : ۱۳۲۴ لمریز کال، آبدره، سید آباد، وردګ، افغانستان.

زده کړه : په دینی مدرسو کښې.

ماموریتونه : په کابل کښې د دارالتألیف، تاریخ ټولنی، فولکلورټولنی، پښتو ټولنې، د پښتو څېړنو د مرکز او د افغانستان د علومو اکاډمی غړی او د "پوهنې"، "آریانا"، "فولکلور"، او "زیری" مهتمم، مرستیال او مدیر.

په اسلام آباد کښې د افغانستان د جهاد د ثقافتی شوری، او په پېښور کښې د افغانستان د جهادی څېړنو د مرکز، د افغانستان د کلتوری ټولنې، د افغانستان د تاریخ او د افغانستان د مرستو د مرکز غړی او د "افغان جهاد"، "قلم"، "سپېدې"، "افغانستان"، "تلوسې" او تعاون د لیکوالی ډلی غړی او مدیر.

تألیفات: ۱۱۰ ټوکه منظوم او منثور تحقیقی او تخلیقی آثار چې بېلا بېلو علمي، ملي او نشراتي مؤسسو خپاره کړي دي.

ARIC
B
6.0
RAF
7932
cp.2

د اریک ګرځنده کتابتون
څواکمن
د اکبر د اطلاعاتي او نشراتي منابعو مرکز

د اریک د ګرځنده کتابتونونو د خپرونو لړۍ
پرله پسې نومره ۱۵